د افغانستان اسلامي جمهوریت
دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

## فوق العاده ګڼه

## د تدارکاتو قانون
## قانون تدارکات

دخپرېدونېټه:د۱۳۹۴ هـ.ش کال د تلې دمیاشتې (۱۵)
پرله پسې نمبر:(۱۱۸۶)

تاریخ نشـــر: (۱۵) میزان سال ۱۳۹۴ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۱۸۶)

| | |
|---|---|
| د امتیـــاز خاوند: | دعدلیـــي وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمـــم:محمد جان | ۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

**قیمت این شماره:** (۱۰۰) افغانی

**تیراژ چاپ:** (۳۰۰۰) جلد

**مطبعه:** بهیــــــر

**آدرس:وزارت عدلیه، ریاست نشرات‌وارتباطعامه، چهارراهی پشتونستان**

## د تدارکاتو د قانون د توشېح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس تقنيني فرمان

ګڼه: (۷۵)
نېټه: ۱۱/ ٦/ ۱۳۹۴

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د نهه اويايمې مادې د حکم له مخې، د تدارکاتو قانون چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۱/ ٦/ ۱۳۹۴ نېټې (۲۰) ګڼې مصوبې پربنسټ تصويب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

د عدليې وزير او په پارلماني چارو کې د دولت وزير مؤظف دي، دغه فرمان، د ملي شورې د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه وروسته د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې، هغې شورې ته وړاندې کړي.

**درېيمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او

## فرمان تقنينی رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح قانون تدارکات

شماره: (۷۵)
تاريخ: ۱۳۹۴/٦/۱۱

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم مادۀ هفتاد ونهم قانون اساسی افغانستان، قانون تدارکات را که به اساس مصوبۀ شماره (۲۰) مؤرخ ۱۳۹۴/٦/۱۱ کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان تصويب گرديده است، توشيح می دارم.

**مادۀ دوم:**

وزير عدليه و وزير دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، اين فرمان را در خلال مدت (۳۰) روز بعد از تاريخ انعقاد نخستين جلسۀ شورای ملی به آن شوری تقديم نمايند.

**مادۀ سوم:**

اين فرمان ازتاريخ توشيح نافذ

د كابينې له مصوبې او نومورې قانون سره يوځای دې، په رسمي جريده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

و همراه با مصوبۀ کابینه و قانون مذکور در جریدۀ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**د تدارکاتو د قانون د طرحې**
**په هکله د افغانستان اسلامي**
**جمهوریت د کابینې**
**مصوبه**

**گڼه: (۲۰)**
**نېټه: ۱۱/ ٦/ ۱۳۹۴**

**د تدارکاتو د قانون طرحه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۱/ ٦/ ۱۳۹۴ نېټې په غونډه کې تصویب شوې ده، منظوروم.**

**محمد اشرف غني**
**دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس**

**مصوبهٔ**
**کابینهٔ ریاست جمهوری اسلامی**
**افغانستان درمورد طرح قانون**
**تدارکات**

**شماره: (۲۰)**
**تاریخ: ۱۳۹۴/٦/۱۱**

**طرح قانون تدارکات را که در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۴/٦/۱۱ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردیده است، منظور می دارم.**

**محمد اشرف غنی**
**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

# فهرست مندرجات

## قانون تدارکات

## فصل اول

## احکام عمومی

| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادۀ اول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۲ |
| مادۀ چهارم: | ساحۀ تطبیق | ۹ |
| مادۀ پنجم: | استفاده از فورم های معیاری تدارکات | ۱۰ |
| مادۀ ششم: | زبان اسناد تدارکات | ۱۱ |
| مادۀ هفتم: | ترجیح تدارکات از منابع داخلی | ۱۲ |
| مادۀ هشتم: | سهم گیری تشبثات کوچک داخلی در تدارکات | ۱۳ |
| مادۀ نهم: | حفظ محیط زیست | ۱۳ |
| مادۀ دهم: | تکنالوژی معلوماتی | ۱۳ |

## فصل دوم

## پلان گذاری تدارکات

| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادۀ یازدهم: | ترتیب پلان تدارکات | ۱۴ |

مادۀ دوازدهم: آغاز مراحل تدارکات......................۱۴
مادۀ سیزدهم: درج کود بودجوی........................۱۵
مادۀ چهاردهم: تشریح تدارکات.......................۱۶
مادۀ پانزدهم: تقسیم تدارکات به بخش ها...............۱۸

## فصل سوم

## مراحل داوطلبی

مادۀ شانزدهم: شرایط و اهلیت داوطلبان.................۲۰
مادۀ هفدهم: ارزیابی قبلی اهلیت داوطلب...............۲۲
مادۀ هجدهم: روش های تدارکات........................۲۴
مادۀ نزدهم: اعلان تدارکات و نشر آن.................۲۵
مادۀ بیستم: شرطنامه و مطالبه پیشنهاد...............۲۶
مادۀ بیست ویکم: تسلیمی آفر ها.......................۲۹
مادۀ بیست ودوم: باز نمودن و ارزیا بی آ فرها.................۳۰
مادۀ بیست وسوم: قبولی آفر..............................۳۲
مادۀ بیست وچهارم: عقد قرارداد..........................۳۳
مادۀ بیست وپنجم: رد آفر و فسخ مراحل تدارکات............۳۴
مادۀ بیست وششم: داوطلبی بی نتیجه......................۳۵
مادۀ بیست وهفتم: تدارکات زیر بنا و اعطای امتیازات.........۳۵

## فصل چهارم

## تضمینات تدارکات

مادۀ بیست وهشتم: انواع تضمینات............................۳٦
مادۀ بیست ونهم: استرداد تضمینات...........................۳۸

## فصل پنجم

## تنظیم امور قراردادها

مادۀ سی ام: تعدیل قرارداد...............................۴۰
مادۀ سی ویکم: تعدیل قیم قرارداد...........................۴۱
مادۀ سی ودوم: پرداخت ها.................................۴۲
مادۀ سی وسوم: موارد تأدیه پیش پرداخت.....................۴۳
مادۀ سی وچهارم: شرایط تجارت بین المللی....................۴۴
مادۀ سی وپنجم : تفتیش اجراآت قراردادی....................۴۵
مادۀ سی وششم : قرارداد فرعی..............................۴۵
مادۀ سی و هفتم : خدمات بعد از فروش وبیمه.................۴٦
مادۀ سی وهشتم: جبران نقض قرارداد..........................۴۷
مادۀ سی ونهم: جریمۀ تأخیر و اعطای مکافات.................۴۸
مادۀ چهلم: جبران خساره...................................۴۹
مادۀ چهل و یکم: ختم قرارداد وفسخ آن.......................۵۰

## فصل ششم

## شفافیت و حسابدهی مراحل تدارکات

مادۀ چهل و دوم: قواعد شفافیت.............................۵۱
مادۀ چهل وسوم: اطلاعیۀ تصمیم اعطای قرارداد...............۵۳
مادۀ چهل وچهارم: حق داوطلب غیر برنده.......................۵۴
مادۀ چهل وپنجم: حفظ اسناد و گزارش تدارکات.............۵۴
مادۀ چهل وششم: ثبت قرارداد ها...............................۵٦
مادۀ چهل وهفتم: مکلفیت کارکنان تدارکات..............۵۷
مادۀ چهل وهشتم: مکلفیت های داوطلب و قراردادی........۵۹
مادۀ چهل ونهم: محرومیت داوطلب و قراردادی............٦۱
مادۀ پنجاهم: حق رسیدگی به اعتراض و تجدید نظر.....٦۴
مادۀ پنجاه ویکم: حل منازعات قرارداد........................٦۵
مادۀ پنجاه ودوم: همکاری با مراجع نظارتی.....................٦٦

## فصل هفتم

## مکلفیت ادارات تدارکاتی

مادۀ پنجاه وسوم: مکلفیت اداره.................................٦۷
مادۀ پنجاه وچهارم: کمیسیون تدارکات ملی.....................٦۹
مادۀ پنجاه وپنجم: ایجاد اداره و یامکانیزم خاص...........
تدارکات مورد استفادۀ عام................ ۷۱
مادۀ پنجاه و ششم : اداره تدارکات ملی...........................۷۱

مادۀ پنجاه و هفتم : وظایف وصلاحیت‌های اداره تدارکات ملی.۷۲
مادۀ پنجاه و هشتم: تنظیم پلان تدارکات اجناس................۷۴
مادۀ پنجاه ونهم: ترتیب اسناد پذیرش با رد اجناس............۷۵
مادۀ شصتم: تصدیق از مطابقت تدارکات با............
مندرجات قرارداد..........................۷۵
مادۀ شصت ویکم: گدام ها و ذخایر...........................۷٦
مادۀ شصت و دوم: اموال مازاد................................۷۷
مادۀ شصت و سوم: منظوری قرارداد ها.........................۷۹

## فصل هشتم

## احکام نهائی

مادۀ شصت و چهارم: فراهم سازی ترتیبات خاص................ ۸۰
مادۀ شصت و پنجم: مؤیدات...............................۸۱
مادۀ شصت و ششم: وضع مقرره ها و طرزالعمل ها.............۸۱
مادۀ شصت و هفتم: تاریخ انفاذ...............................۸۲

## د تدارکاتو قانون
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د پنځه اویایمې مادې د (۴) جزء د حکم په رعایتولو سره، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- د ادارې د اړتیـــــا وړ اجناســــو، خدمتونو او ودانیزو چارو د تدارکات او برابرولو د چارو تنظیمول.

۲- د تدارکاتو په پړاوونو کې د شفافیت تأمینول.

۳- د عامه وجوهو اغېزمن کنترولول.

۴- د اجناسو، خدمتونو او ودانیزو چارو د برابرولو او تــدارک د اقتصــادي او کیفیت لرلو د اصل تأمینول.

۵- په داوطلبــۍ کــې د شــرایطو وړ داوطلبانو د ګډون د زمینې برابرول.

## قانون تدارکات
## فصل اول
## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این قانون با رعایت حکم جزء (۴) مادهٔ هفتاد وپنجم قانون اساسی افغانســـتان، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- تنظیم امور تهیه و تدارک اجناس، خدمات و امور ساختمانی مورد ضرورت اداره.

۲- تـــأمین شـــفافیت در مراحـــل تدارکات.

۳- کنترول مؤثر وجوه عامه.

۴- تأمین اصل اقتصادی و با کیفیـــت بودن تهیه و تدارک اجناس، خدمات و امور ساختمانی.

۵- فراهم نمـــودن زمینـــه اشـــتراک داوطلبان واجد شرایط در داوطلبی.

## اصطلاحگاني

**دریيمه ماده:**

راتلونکي اصطلاحگاني پدې قانون کې لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱- تدارکات: د اجناسو، خدمتونو او ودانیزو چارو او د هغو د ضمني خدمتونو برابرول او چمتوکول دي چې د ادارې، له خوا، دې قانون د حکمونو مطابق د عامه وجوهو په بدل کې صورت مومي.

۲- اعطاء آمر: هغه شخص دی چې ددې قانون د حکمونو مطابق د تدارکاتو د قرارداد د منظورۍ، عقد، تعدیل یا فسخې واک ولري.

۳- داوطلب: هغه حقیقي یا حکمي شخص دی چې خپله یا دهغه قانوني استازی د آفر د وړاندې کولو په منظور، د شرطپاڼې د مندرجاتو اوددې قانون د حکمونو مطابق، په داوطلبۍ کې گډون کوي.

۴- شرطپاڼه: هغه سند دی چې د اجناسو، د غیر مشورتي خدمتونو او ودانیزو چارو کمیت، کیفیت، مشخصاتو او خصوصیاتو د ارزونې شرایط او

## اصطلاحات

**مادهٔ سوم:**

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- تدارکات: تهیه و فراهم سازی اجناس، خدمات و امور ساختمانی و خدمات ضمنی آنها است که توسط اداره، مطابق احکام این قانون در بدل وجوه عامه صورت می گیرد.

۲- آمر اعطاء: شخصی است که صلاحیت منظوری، عقد، تعدیل یا فسخ قرارداد تدارکات را طبق احکام این قانون دارا باشد.

۳- داوطلب: شخص حقیقی یا حکمی است که خود یا نماینده قانونی وی، به منظور ارائه آفرمطابق مندرجات شرطنامه و احکام این قانون در داوطلبی اشتراک می نماید.

۴- شرطنامه: سندی است که شرایط و معیارهای ارزیابی، کمیت، کیفیت، مشخصات و خصوصیات اجناس، خدمات غیرمشورتی و امور

معيارونه او په هغهٔ کې د آفر د وړانـــدې کولو ډول درج او د داوطلب لاس رسی ته ورکول کېږي.

۵- آفر: وړانديز يا نرخ ورکول دي چې د داوطلب لخوا د شرطپاڼې، د وړانـــديز غوښـــتنې او يـــا د نـــرخ اخيســـتنې د غوښتنليک په مقابل کې د تدارکاتو پـــه منظور، وړاندې کېږي چې په هغهٔ کـــې تعداد يا اندازه، مشخصات، د في واحد بيه، ټوله بيه او نور لازم شرايط درجېږي.

٦- داوطلبي: د هغې سيالۍ پړاو دی چې په هغهٔ کې آفر د تدارکاتو پـــه منظـــور، غوښتل، ترلاسه او ارزول کېږي او پـــه پايله کې ګټوونکی داوطلب اعلان او له هغه سره د تدارکاتو قرارداد عقدېږي.

۷- د نرخ اخيستنې غوښتنليک: هغـــه تګلاره ده چې اداره د هغې پر بنســـټ، ددې قانون د حکمونو مطابق د تدارکاتو نرخ، له داوطلب پلورونکي څخه غواړي.

۸- پرانيستې داوطلبي: هغه تګـــلاره ده چې داوطلبان د هغې پربنسټ، په شرطپاڼه کې د درج شوو مشخصاتو په پام کـــې نيولو سره، د نظر وړ تدارکاتو په هکلـــه

ساختمانی و طرز ارائه آفر در آن درج و بدســـترس داوطلـــب قـــرار داده می شود.

۵- آفر: پیشنهاد یا نرخ دهی است که توسط داوطلب در مقابـــل شـــرطنامه، مطالبهٔ پیشنهاد و یا درخواســـت نـــرخ گیری به منظور تدارکات ارائه میگردد، که در آن تعداد یا مقدار، مشخصـــات، قیمت فی واحد، قیمت مجموعی و سایر شرایط لازم درج می گردد.

٦- داوطلبی: مرحله رقابتی است که در آن آفر به منظور تدارکات، درخواست، دریافت و ارزیابی گردیده و در نتیجـــه داوطلب برنده اعلان و با وی قـــرارداد تدارکات عقد می گردد.

۷- درخواست نرخ گیری: روشی است که به اساس آن اداره، نرخ تدارکات را مطابق احکام این قـــانون از فروشـــنده داوطلب تقاضا می نماید.

۸- داوطلبی باز: روشی است که بـــه اساس آن داوطلبان، آفرهای خویش را در مورد تدارکات مورد نظر با رعایت مشخصات مندرج شـــرطنامه بـــه اداره

خپل آفرونه، اداري ته وړاندې کوي.

۹- مقيده داوطلبي: هغه تګلاره ده چې په هغې کې محدود شمېر داوطلبان، ددې قانون د حکمونو مطابق د مشخصو تدارکاتو په منظور، داوطلبۍ ته رابلل کېږي.

۱۰- له واحدې سرچينې څخه تدارکات: هغه تګلاره ده چې ددې قانون د حکمونو مطابق، تدارکات له داوطلبۍ پرته په مستقيم ډول صورت مومي.

۱۱- قرارداد: ليکلې موافقه ده چې ددې قانون د حکمونو مطابق د ادارې او وړونکی داوطلب ترمنځ عقد اوپه هغې کې په شرطپاڼه کې درج شوي شرايط او مشخصات او د اړخونو مکلفيتونه درج او د هغې د اعتبار په موده کې، نافذ وي.

۱۲- د تدارکاتو پړاوونه: هغه فعاليتونه دي چې د اعطاء آمر له تصميم نيولو څخه وروسته، د تدارکاتو په غرض پيل او د هغو په اکمال سره دشرطپاڼې او قرارداد دمندرجاتو مطابق، پای ته رسېږي.

۱۳- د وړانديز غوښتنه: هغه سند دی چې په هغهٔ کې د وړانديز د وړاندې کولو

تسليم می نمايند.

۹- داوطلبی مقيد: روشی است که در آن تعداد محدودی از داوطلبان به منظور تدارکات مشخص مطابق احکام اين قانون به داوطلبی دعوت می گردند.

۱۰- تدارکات از منبع واحد: روشی است که تدارکات طبق احکام اين قانون، بدون داوطلبی طور مستقيم صورت می گيرد.

۱۱- قرارداد: موافقه کتبی است که مطابق احکام اين قانون ميان اداره و داوطلب برنده عقد و در آن شرايط و مشخصات مندرج شرطنامه و مکلفيت های طرفين درج و طی ميعاد اعتبار آن، نافذ می باشد.

۱۲- مراحل تدارکات: فعاليت های است که بعد از اتخاذ تصميم آمر اعطاء غرض تدارکات، آغاز و با اکمال آن مطابق مندرجات شرطنامه و قرارداد خاتمه می يابد.

۱۳- مطالبهٔ پيشنهاد: سندی است که طرز و شرايط ارائه پيشنهاد

ډول او شرايط توضـيح او د مشـورتي خدمتونو د برابرولو له پاره، تر استفادې لاندې نيول کېږي.

۱۴- قراردادي: وړونکی داوطلب دی چې له اړوندې ادارې سره د تـدارکاتو قرارداد عقد وي.

۱۵- ځواب ورکوونکی آفر: هغه آفـر دی چې له ارزونې وروسـته، کيفـي او تخنيکي معيارونه او په شرطپاڼه کې درج شوي شرايط په هغهٔ کې رعايت شـوي وي.

۱٦- تضمينونه: نغدي وجوه يا بـانکي تضمين او يا د هغو معادل مـالي معتبـر سندونه دي چې د داوطلب او قراردادي لخوا ددې قانون د حکمونو مطابق،امانت ته اېښودل کېږي.

۱۷- اجناس: د تجهيزاتو، توليداتو، اومو (خامو) موادو اعم جامدو، مـايع او يـا د ګاز مختلف ډولونه او ضمني خدمتونه دي چې د اجناسود برابرولو لپاره، اړين وي، په دې شرط چې د ضمني خدمتونو ارزښت د اجناسو له اصلي بيـې څخـه زيات نه وي.

در آن توضيح و جهت تهيـهٔ خـدمات مشـورتی مـورد اسـتفاده قـرار می گيرد.

۱۴- قراردادی: داوطلب برنده است که قرارداد تدارکات را با ادارهٔ مربوط عقد می نمايد.

۱۵- آفـر جوابگـو: آفـری اسـت کـه بعـد از ارزيـابی، معيارهـای کيفی و تخنيکـی و شـرايط منـدرج شـرطنامه در آن رعايـت گرديـده باشد.

۱٦- تضمينات: وجوه نقدی يا تضمين بانکی و يا اسناد معتبر مالی معـادل آن است که از طرف داوطلب و قراردادی مطابق احکام اين قـانون بـه امانـت گذاشته می شود.

۱۷- اجناس: انواع مختلف امـوال و اشياء به شمول تجهيزات، توليـدات، مواد خام اعم از جامد، مايع يا گـاز و خدمات ضمنی است که بـرای تهيـه اجناس ضروری باشد، مشروط بر ايـن که ارزش خدمات ضمنی از قيمت اصلی اجناس بيشتر نباشد.

۱۸- د آفر پرانیستنې هیئت: د ادارې له مجربو کارکوونکو څخه جوړ دی چې د آفرونو د پرانیستلو لپاره، ددې قانون د حکمونو مطابق د اعطاء آمر لخوا توظیف او له دریو تنو څخه کم نشي کېدای. په اړوندو تدارکاتو کې د آفر د پرانیستلود هیئت غړي، د ارزونې د هیئت غړی نشي کېدای.

۱۹- د ارزونې هیئت: له هغو مجربو کارکوونکو څخه جوړ دی چې د آفرونو د ارزونې او مقایسې او د ځواب ویونکو آفرونو او د وړونکي آفر د تشخیص او د ارزونې د رپوټ د برابرولو په منظور، د اعطاء آمر لخوا توظیفېږي او له دریو تنو څخه کم نشي کېدای.

۲۰- د کتنې(معاینې) هیئت: له هغو مجربو کارکوونکو څخه جوړ دی چې د تدارکاتو د کمیت اوکیفیت له څرنګوالي څخه د ډاډ دحاصلولو لپاره له قرارداد سره په مطابقت کې د ادارې لخوا توظیفېږي او له دریو تنو څخه کم نشي کېدای.

۲۱- اداره: وزارتونه، عمومي ریاستونه،

۱۸- هیئت آفرگشایی: متشکل از کارکنان مجرب اداره است که جهت باز نمودن آفرها، مطابق احکام این قانون از طرف آمر اعطاء توظیف و کمتر از سه نفر بوده نمی تواند. اعضای هیئت آفرگشایی در تدارکات مربوط، عضو هیئت ارزیابی شده نمی توانند.

۱۹- هیئت ارزیابی: متشکل از کارکنان مجرب است که به منظور ارزیابی و مقایسه آفرها و تشخیص آفرهای جوابگو و آفر برنده و تهیه گزارش ارزیابی از طرف آمر اعطاء توظیف گردیده و کمتر از سه نفر بوده نمی تواند.

۲۰- هیئت معاینه: متشکل از کارکنان مجرب است که جهت حصول اطمینان از چگونگی کمیت و کیفیت تدارکات در مطابقت با قرارداد از طرف اداره توظیف گردیده و کمتر از سه نفر بوده نمی تواند.

۲۱- اداره: وزارت ها، ریاست های

دولتـــي خپلـــواک کمپســـيونونه، ښاروالۍ ګانې تصدي ګـــانې، د هغـــوی دوه یمي واحدونـــه او نـــور بودجـــوي واحدونه او دولتي شرکتونه او یا هغه ګډ شرکتونه دي چې په هغو کې د دولـــت ونډه له (۲۵) سلنې څخه زیاته وي.

۲۲- مشورتي خدمتونه: هغه فعالیتونه دي چې تخصصي، ذهني او مشورتي ماهیت ولري او د طرح او ډیزاین، څارنې، زده کړې، بررسۍ (پلټنـــې)، (ســـافت ویـــر کمپیوتري پروګرامونو)، رامنځته کول، د متخصصینو نظر یې او وړاندیزونه او ورته تخنیکي او مسلکي او معلوماتي خدمتونه پکې شامل دي.

د اجناسو د برابرولو اړوندې چـــارې او ودانیزې چارې په دې تعریف کـــې نـــه شاملېږي، خو دا چـــې معلومـــاتي اړخ ولري.

۲۳- ودانیزې چـــارې: ودانـــول، بیـــا ودانول، ویجاړول، ترمیم یا د یوې ودانۍ له نوي سره جوړول، د ســـاحې چمتـــو کول، کیندنې، لګول(نصب)، مونتـــاژ، ښکلاییزې چارې او هم د هغو ضـــمني

عمومی، کمیسیون های مستقل دولتـــی، شاروالی ها، تصدی ها، واحد های دومی آنها و سایر واحدهای بودجوی و شرکت- های دولتی و یا شرکت های مختلطـــی است که سهم دولـــت در آن بیشـــتر از (۲۵) فیصد باشد.

۲۲- خدمات مشورتی: فعالیت هـــای است که ماهیت تخصصـــی، ذهنـــی و مشورتی داشته و شامل طرح و دیزاین، نظارت، آموزش، بررسی (تفتیش)، ایجاد (پروگرام های کمپیوتری سافت ویـــر)، نظریات و پیشـــنهادات متخصصـــین و خدمات مشابه تخنیکـــی و مســـلکی و معلوماتی می باشد.

امور مربوط به تهیهٔ اجنـــاس و امـــور ساختمانی مشمول این تعریف نمی باشد، مگر اینکـــه جنبـــهٔ معلومـــاتی داشـــته باشد.

۲۳- امـــور ســـاختمانی: شـــامل اعمار، اعمار مجدد، تخریب، ترمیم یـــا نوسازی یک عمارت، آمـــاده ســـاختن ساحه، حفریات، نصب، مونتاژ، امـــور تزئیناتی و نیز خدمات ضمنی آن (برمـــه

خدمتونه( برمه كاري، نقشه اخيستنه، تصوير اخيستنه، د زلزلې څېړنې او ورته خدمتونه او دې ته ورته) پكې شامل دي چې د قرارداد د مندرجاتو مطابق، سرته رسېږي، پدې شرط چې د ضمني خدمتونو ارزښت پخپله د ودانۍ له بيې څخه زيات نشي.

۲۴- د ګټو تضاد: هغه حالت دی چې د اعطاء آمر په شمول د تداركاتو مؤظفين په يو ډول نه يو ډول په اړوندو تداركاتو كې ذينفع وي او يا له داوطلبانو څخه د يوهٔ اقارب وي. په دې مقصد اقارب له اولاد، پلار، نيكه، مور، نيا، خاوند يا ښځې، ورور، خور، عمه، خاله، كاكا، ماما او د دوی اولادونه تر دوه يمې درجې، د خاوند يا ښځې والدين او د هغو له خور او ورور، د زوی له ښځې يا د لور له خاوند څخه عبارت دي.

۲۵- تأمينات: هغه نغدي وجوه دي چې په ګرانتۍ او يا وارنتۍ مودې لرونكو تداركاتو كې د قراردادي د وركړو له سلنې څخه وضع او د مالي ضمانت په توګه ساتل كېږي او د ګرانتۍ او يا وارنتۍ

كـــاری، نقشـــه بـــرداری، تصـــوير برداری، تحقيقات زلزلـــه و خـــدمات مشابه و امثال آن) است كـه مطـابق مندرجات قرارداد، انجام می گـــردد، مشروط بر اينكه ارزش خدمات ضمنی از قيمـــت خـــود عمـــارت بيشـــتر نگردد.

۲۴- تضاد منافع: حالتی اســت كــه مؤظفين تداركات به شمول آمر اعطاء به نحوی از انحا در تداركات مربوط ذينفع بوده و يا اقــارب يكــی از داوطلبـــان باشد. اقارب به اين مقصد عبـارت از اولاد، پدر، پدركلان، مادر، مادركلان، همسر، برادر، خواهر، عمه، خاله، كاكا، ماما و اولادهای ايشان تا درجــه دوم، والدين همسر و خـــواهر و بـــرادر آن، همســـر پســـر يـــا شـــوهر دختـــر، می باشد.

۲۵- تأمينات: وجوه نقدی است كه در تداركات دارای ميعاد گرانتـــی و يـــا وارنتی از فيصـــدی پرداخـــت هـــای قراردادی وضع و به عنوان ضمانت مالی نگهداری و بعد از ختم ميعاد گرانتی و يا

د مودې له پای ته رسېدو او په د نظر وړ اجناسو، خدمتونو او ودانیزو چارو کې له نه نقص څخه وروسته، مستردېږي.

۲۶- د تدارکاتو څانګه: هغه څانګه ده چې ددې قانون د حکمونو مطابق، د اړوندې ادارې د تدارکاتو د مدیریت او ادارې مسئولیت لري.

۲۷- غیر مشورتي خدمتونه: هغه فعالیتونه دي چې مشورتي، د اجناسو د خریدارۍ او د ودانیزو چارو جنبه ونه لري، کرایه، د کورونو، دفترونو، وسایطو، ګدامونو د اجاره کولو، ساتنه او پالنه، د کار اجرت او هغو ته ورته، نغاړي.

## د تطبیق ساحه

### څلورمه ماده:

هغه ادارې او نور غیر بودجوي واحدونه چې تدارکات له عامه وجوهو څخه تمویلوي، مکلف دي، د هغو چارې ددې قانون د حکمونو مطابق تنظیم کړي. لاندې موارد لدې حکم څخه مستثني دي:

۱- د هغو تدارکاتو برابرول چې د هېواد د لوړو ګټو او مصالحو د ساتلو په منظور،

وارنتی و عدم نقص در اجناس، خدمات و امور ساختمانی مورد نظر، مسترد می گردد.

۲۶- شعبه تدارکات: شعبهٔ است که مسئولیت مدیریت و ادارهٔ تدارکات ادارهٔ مربوط را طبق احکام این قانون دارا می باشد.

۲۷- خدمات غیرمشورتی: فعالیت هایی است که جنبه مشورتی، خریداری اجناس و امور ساختمانی را نداشته شامل کرایه، اجاره گرفتن منازل، دفاتر، وسایط، گدام ها، حفظ و مراقبت، اجرت کار و امثال آن می باشد.

## ساحهٔ تطبیق

### مادهٔ چهارم:

ادارات و سایر واحدهای غیر بودجوی که تدارکات را از وجوه عامه تمویل می نمایند، مکلف اند، امور آن را مطابق احکام این قانون تنظیم کنند. موارد ذیل از این حکم مستثنی است:

۱- تهیه تدارکات که به منظور حفظ منافع و مصالح علیای کشور ایجاب

محرمیت ایجاب وکړي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د بین المللي مؤسسو تدارکاتي مقررات ددې قانون د حکمونو مغایر وي، حکومت کولای شي د دمخه ژمنو له په پام کې نیولو سره په موافقه لیک کې له تمویل شوو تدارکاتو سره، د هغو مؤسسو د مقرراتو مطابق، موافقه وکړي.

۳- له هېواده په بهر کې مېشتو د افغانستان د نمایندګیو تدارکات، ددې قانون په دري شپېتمه ماده کې د درج شوي حکم په پام کې نیولو سره، د کوربه هېواد د قواعدو او مقرراتو مطابق، صورت مومي، خودا چې په موافقه لیک کې بل ډول تصریح شوي وي.

۴- برېښنايي تدارکات او د هغو اړوندې چارې په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

## د تدارکاتو له معیاري فورمو څخه ګټه اخیستنه

پنځمه ماده:

اداره مکلفه ده، شرطپاڼې، د قرارداد فورمې او نورې هغه معیاري فورمې چې د ملي تدارکاتو د ادارې لخوا ترتیبېږي، د

محرمیت را نماید.

۲- درصورتی که مقررات تدارکات مؤسسات بین المللی مغایر احکام این قانون باشد، حکومت می تواند با نظرداشت تعهدات قبلی به تدارکات تمویل شده در موافقت نامه، طبق مقررات آن مؤسسات موافقه نماید.

۳- تدارکات نمایندگی های افغانستان مقیم خارج کشور با رعایت حکم مادهٔ شصت و سوم این قانون مطابق قواعد و مقررات کشور میزبان صورت می گیرد، مگر اینکه در موافقتنامه طور دیگری تصریح شده باشد.

۴- تدارکات الکترونیکی و امور مربوط آن در مقررهٔ جداگانه تنظیم می گردد.

## استفاده از فورم های معیاری تدارکات

مادهٔ پنجم:

اداره مکلف است، شرطنامه ها، فورمه های قرارداد و سایر فورمه های معیاری را که توسط ادارهٔ تدارکات ملی ترتیب

تدارکاتو د کړنلارې مطابق، د تدارکاتو په چارو کې تر استفادې لاندې ونیسي.

## د تدارکاتو د سندونو ژبه

**شپږمه ماده:**

(۱) اداره مکلفه ده، د تدارکاتو معیاري سندونه له جملې د داوطلب د اهلیت د دمخه ارزونې سندونه، شرطپاڼه، د وړاندیز غوښتنه او قرارداد د هېواد له رسمي ژبو څخه په یوې ترتیب کړي.

(۲) اداره، په بین المللي داوطلبۍ کې، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي سندونه په انګلیسي ژبه او یا په بین المللي سوداګرۍ کې په مروجو نورو ژبو هم ترتیبوي.

(۳) آفر یا د هغهٔ د ضمیمو سندونه چې په بهرنۍ ژبه تسلیمېږي، د هېواد له رسمي ژبو څخه په یوې د تصدیق لیک لرونکي ژباړونکي له خوا د آفر ورکوونکي په لګښت ژباړل کېږي، خوداچې په شرطپاڼه کې بل ډول یادونه شوې وي.

می گردد، طبق طرزالعمل تدارکات در امور تدارکات مورد استفاده قرار دهد.

## زبان اسناد تدارکات

**مادهٔ ششم:**

(۱) اداره مکلف است، اسناد معیاری تدارکات اعم از اسناد ارزیابی قبلی اهلیت داوطلب، شرطنامه، مطالبه پیشنهاد و قرارداد را به یکی از زبانهای رسمی کشور ترتیب نماید.

(۲) اداره، در داوطلبی بین المللی، اسناد مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را به زبان انگلیسی و یا سایر زبانهای رایج در تجارت بین المللی نیز ترتیب می نماید.

(۳) آفر یا اسناد ضمایم آن که به زبان خارجی تسلیم داده می شود، توسط ترجمان دارندهٔ تصدیقنامه به یکی از زبانهای رسمی کشور به مصرف آفر دهنده ترجمه می گردد، مگر اینکه در شرطنامه طور دیگری ذکر شده باشد.

## له کورنيو سرچينو څخه د تدارکاتو ترجيح

**اوومه ماده:**

(۱) اداره مکلفه ده، د شرطپاڼې مطابق تدارکات له کورنيو توليداتو څخه تدارک کړي، پدې شرط چې بيه يې د بهرنيو سرچينو په پرتله د تدارکاتو په کړنلاره کې د درج شوې سلنې (فيصدۍ) له حدودو څخه، تجاوز ونکړي.

(۲) د هغو داوطلبانو د آفرونو بيه چې په افغانستان کې مېشت استازی نلري او پرعايداتو باندې د ماليانو د ورکړې تابع ندي، د هغو داوطلبانو له آفرونو سره په مقايسه کې چې په افغانستان کې مېشت استازی لري او پر عايداتو باندې د ماليانو د ورکړې تابع دي، د هغې فيصدۍ مطابق چې دتدارکاتو په کړنلاره کې د ارزونې په منظور، ټاکل شوې ده، زياتېږي.

(۳) له کورنيو سرچينو څخه د تدارکاتو د ترجيح تفصيل او د هغو د تطبيق ډول، د تدارکاتو په کړنلاره کې تنظيمېږي.

## ترجيح تدارکات از منابع داخلی

**مادۀ هفتم:**

(۱) اداره مکلف است، تدارکات را طبق شرطنامه از تولیدات داخلی تدارک نماید، مشروط بر اینکه قیمت آن نسبت به منابع خارجی از حدود فیصدی مندرج طرزالعمل تدارکات، تجاوز ننماید.

(۲) قیمت آفرهای داوطلبانی که در افغانستان نمایندۀ مقیم ندارند و تابع پرداخت مالیات بر عایدات نمی باشند، در مقایسه با آفرهای داوطلبانی که نمایندۀ مقیم در افغانستان دارند و تابع پرداخت مالیات بر عایدات می باشند، طبق فیصدی که در طرزالعمل تدارکات به منظور ارزیابی تعیین گردیده، تزئید می یابد.

(۳) تفصیل ترجیح تدارکات از منابع داخلی و طرز تطبیق آن در طرزالعمل تدارکات تنظیم می گردد.

**په تدارکاتو کې د کورنيو کوچنيو تشبثاتو ونډه اخيستنه**

**اتمه ماده:**

اداره مکلفه ده، د تدارکاتو دکړنلارې مطابق، په تدارکاتو کې د کورنيو کوچنيو تشبثاتو او انفرادي نورو اشخاصو د ګډون زمينه، برابره کړي.

**د ژوند چاپېريال ساتنه**

**نهمه ماده:**

اداره او قراردادي مکلف دي، د اړوندو تقنيني سندونو مطابق، د تدارکاتو په پړاوونو او د قراردادونو په تطبيق کې د ژوند چاپيريال ساتنې لپاره، لازم تدبيرونه ونيسي او عملي کړي.

**معلوماتي ټکنالوژي**

**لسمه ماده:**

(۱) د ملي تدارکاتو اداره، ددې قانون په شپاړسمه ماده کې د درج شوو شرايطو لرونکو داوطلبانو د ثبت او د تشخيص د اسانتيا له پاره، د معلوماتي مرکز(ډېټابېس) د رامنځته کېدو په شمول، د تدارکاتو په چارو کې له معلوماتي ټکنالوژۍ څخه د

**سهم گیری تشبثات کوچک داخلی در تدارکات**

**مادۀ هشتم:**

اداره مکلف است، زمینه اشتراک تشبثات کوچک داخلی و سایر اشخاص انفرادی در تدارکات را طبق طرزالعمل تدارکات فراهم نماید.

**حفظ محیط زیست**

**مادۀ نهم:**

اداره و قراردادی مکلف اند، تدابیر لازم را جهت حفظ محیط زیست در مراحل تدارکات و تطبیق قراردادها، طبق اسناد تقنینی مربوط اتخاذ و عملی نمایند.

**تکنالوژی معلوماتی**

**مادۀ دهم:**

(۱) اداره تدارکات ملی زمینه استفاده از تکنالوژی معلوماتی در امور تدارکات را به شمول ایجاد مرکز معلوماتی (دیتابیس) جهت ثبت و سهولت در تشخیص داوطلبان واجد شرایط مندرج مادۀ شانزدهم این قانون، طبق

استفادې زمينه، د تداركاتو د كـړنلارې مطابق برابروي.

(۲) اړوندې ادارې ددې مـادې د(۱) فقرې د حكم د تطبيق له پـاره د ملـي تداركاتو له ادارو سره په لازمې همكارۍ مكلفې دي.

## دوه يم فصل

## د تداركاتو پلان جوړونه

### د تداركاتو د پلان ترتيبول

يوولسمه ماده:

(۱) اداره مكلفه ده، د اړوندو تداركاتو پلان، په لاس كې د شته وجوهو، مقياسي سپما(صرفه جويي)، مناسـب وخـت او نورو اړوندو چارو په پام كې نيولو سره، ترتيب كړي.

(۲) اداره مكلفه ده، د تداركاتو د پلان د ترتيب او وړاندې كولو په وخت كـې، ددې قانون او اړوندو قوانينو حكمونه، په پام كې ونيسي.

### د تداركاتو د پړاوونو پيل

دوولسمه ماده:

(۱) اداره مكلفه ده، د تداركاتو مجموعي

طرزالعمـل تـدارکات فـراهم می نماید.

(۲) ادارات ذیربط مکلف به همکاری لازم جهت تطبیق حکم فقرۀ (۱) ایـن مـاده بـا اداره تـدارکات ملـی می باشند.

## فصل دوم

## پلان گذاری تدارکات

### ترتیب پلان تدارکات

مادۀ یازدهم:

(۱) اداره مکلف است، پلان تدارکات مربوط را با نظر داشت وجوه دسـت داشته، صرفه جویی مقیاسـی، زمـان مناسب و سایر امور مربـوط، ترتیـب نماید.

(۲) اداره مکلف است، حین ترتیـب و ارائه پلان تـدارکات، احکـام ایـن قانون و قـوانین مربـوط را رعایـت نماید.

### آغاز مراحل تدارکات

مادۀ دوازدهم:

(۱) اداره مکلف است، ارزش مجموعی

ارزښت چې د مالي کال په ترڅ کې اړين ګڼل کېږي، تثبيت او محاسبه کړي.

(۲) اداره کولای شي، د تدارکاتو پړاوونه د تدارکاتو د پلان د اړتيا د تثبيت او له منظورۍ وروسته د بودجې د وروستنۍ طرحې له په پام کې نيولو سره پيل او د قرارداد تر عقد پورې، مخ ته يوسي.

(۳) اداره نشي کولای، قرارداد د بودجې له منظورۍ څخه مخکې، عقد کړي.

(۴) اداره کولای شي، په هغو خاصو حالتونو کې چې د تدارکاتو لپاره عاجله اړتيا شتون ولري او د هغه تأخير، صحت، خونديتوب، عامه مالونه او شتمنۍ او يا امنيت او ملي ګټې له جدي ګواښ سره مخامخ کړي، ددې مادې د(۳) فقرې د حکم په پام کې نيولو پرته د ماليې وزارت د ليکلې موافقې له اخيستو وروسته، قرارداد عقد کړي.

## د بودجوي کود درج

**ديارلسمه ماده:**

(۱) اداره مکلفه ده، ددې قانون د دوولسمې مادې په ( ۲ او ۳ ) فقرو کې

تدارکات را که در خلال سال مالی ضروری می باشد، تثبیت و محاسبه نماید.

(۲) اداره می تواند، مراحل تدارکات را بعد از تثبیت نیازمندی و منظوری پلان تدارکات با نظرداشت طرح نهایی بودجه آغاز و الی عقد قرارداد، به پیش ببرد.

(۳) اداره نمی تواند، قرارداد را قبل از منظوری بودجه عقد نماید.

(۴) اداره می تواند، در حالات خاص که نیازمندی عاجل برای تدارکات وجود داشته باشد که تأخیر آن، صحت، مصئونیت، اموال و دارایی عامه و یا امنیت و منافع ملی را به خطر جدی مواجه سازد، بدون رعایت حکم فقرۀ (۳) این ماده بعد از اخذ موافقۀ کتبی وزارت مالیه، قرارداد را عقد نماید.

## درج کود بودجوی

**مادۀ سیزدهم:**

(۱) اداره مکلف است، کود بودجوی تدارکات مندرج فقره های (۲ و ۳)

د درج شوو تدارکاتو بودجوي کود په شرطپاڼه، وړاندیز غوښتنه او قرارداد کې درج کړي.

(۲) هغه تدارکات چې د بشپړېدو موده يې د بودجې په کې سند له درج شوي وخت څخه زياته وي، د ماليې وزارت له دمخه موافقې وروسته، د هغې د تدارکاتو پړاوونه پيلېږي. په دې صورت کې اداره مکلفه ده د لګښتونو او د پلان شوو تدارکاتو د کار د پرمختګ د فيصدۍ کلنی رپوټ، په مستنده توګه ماليې وزارت ته وړاندې کړي.

مادهٔ دوازدهم این قانون را در شرطنامه، مطالبه پیشنهاد و قرارداد درج نماید.

(۲) تدارکات که میعاد اکمال آن بیش از زمان سند بودجه باشد، بعد از موافقهٔ قبلی وزارت مالیه، مراحل تدارکات آن آغاز می گردد. در این صورت اداره مکلف است گزارش سالانهٔ مصارف و فیصدی پیشرفت کار تدارکات پلان شده را طور مستند به وزارت مالیه ارائه نماید.

## د تدارکاتو تشريح

### څوارلسمه ماده:

(۱) اداره مکلفه ده، لاندې موارد په تفصيل سره په شرطپاڼه، د تدارکاتو په پلان ، نمونو او د هغو په شاملو طرحو کې، په څرګنده توګه درج کړي:

۱- د تدارکاتو کميت او کيفيت.

۲- د خدمتونو ډول.

۳- د تدارکاتو تخنيکي مشخصات.

۴- نبنه، لغت، بسته بندي، علامه او د تدارکاتو لېبل (برچسب).

## تشریح تدارکات

### مادهٔ چهاردهم:

(۱) اداره مکلف است، موارد ذیل را به تفصیل در شرطنامه، پلان تدارکات، نمونه ها و طرح های شامل آن، طور واضح درج نماید:

۱- کمیت و کیفیت تدارکات.

۲- نوع خدمات.

۳- مشخصات تخنیکی تدارکات.

۴- نشانه، واژه، بسته بندی، علامه و برچسب تدارکات.

۵- د تدارکاتو د قرارداد شرایط.

٦- د تدارکاتو تصدیق، ازمېښت او د هغو تګلارې.

(۲) اداره مکلفه ده، د تدارکاتو په پړاوونو کې د داوطلبانو د ګډون لپاره د اسانتیاوو د برابرولو په منظور، دهغو د استعمال د اغېزمنتوب له نظره د تدارکاتو د تشریح په اړه توضیحی معلومات او د ملي او بین المللي معیارونو (ستندردونو) د څرنګوالي په هکله توضیحات د داوطلبۍ په سندونو او د داوطلبانو د اهلیت د دمخه ارزونې په سندونو کې درج کړي او د هغو شرایطو له وضع کولو څخه چې د نورو داوطلبانو د ګډون خنډ شي، ډډه وکړي.

(۳) اداره مکلفه ده، یوازې هغه اړوندې حقیقي اړتیاوې چې د هغو د رفع کولو لپاره تدارکات صورت مومي، په تخنیکي تشریح کې بیان کړي او د اضافي مشخصاتو له توضیح څخه، ډډه وکړي.

(۴) اداره نشي کولای، سوداګریزې نښې، د مخترع او مکتشف حقوق، د مؤلدینو یا د ټاکلو برابروونکو د تولید د

۵- شرایط قرارداد تدارکات.

٦- تصدیق، آزمایش تدارکات و شیوه های آن.

(۲) اداره مکلف است، به منظور فراهم آوری تسهیلات جهت اشتراک داوطلبان در مراحل تدارکات، معلومات توضیحی را مبنی بر تشریح تدارکات از نظر مؤثریت استعمال آن و توضیحات را در مورد چگونگی معیارها (ستندردهای) ملی و بین المللی در اسناد داوطلبی و اسناد ارزیابی قبلی اهلیت داوطلبان درج نماید و از وضع شرایطی که مانع اشتراک داوطلبان دیگر شود، اجتناب ورزد.

(۳) اداره مکلف است، صرف نیازمندی های حقیقی مربوط را که برای رفع آن تدارکات صورت می گیرد، در تشریح تخنیکی بیان نماید و از توضیح مشخصات اضافی، اجتناب ورزد.

(۴) اداره نمی تواند، علایم تجارتی، حقوق مخترع ومکتشف، طرح های صنعتی ونشانه های جغرافیایی محل تولید

ځای صنعتي طرحې او جغرافيايي نښې په تخنيکي مشخصاتو کې ذکر کړي، خو داچې:

۱- د تدارکاتو د اړتياوو د توضيح لپاره بله عملي لاره شتون ونه لري.

۲- ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو مشخصاتوکې (دغه شان يا د هغهٔ معادل) عبارتونه، درج شوي وي.

**په برخو باندې د تدارکاتو وېش**

**پنځلسمه ماده:**

(۱) په برخو باندې د تدارکاتو وېشل، په هغهٔ صورت کې چې له مالي او تخنيکي نظره د ادارې لپاره زياته ګټه عايده کړي يا د کورنيو کوچنيو داوطلبانو او تشبثاتو ګډون برابر کړي، مجاز دي.

(۲) په برخو باندې د تدارکاتو وېشل د تدارکاتو د سيالۍ د تګلارو له تطبيق څخه د ډډې کولو او يا ددې قانون د دري شپيتمې مادې د (۴) فقرې د نه تطبيق په منظور، مجاز نه دي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو حالتونو کې لاندې معلومات

مؤلدين يا فراهم کنندگان معين را در مشخصات تخنيکی ذکر نمايد، مگر اينکه:

۱- راه عملی ديگری برای توضيح ضرورت های تدارکات وجود نداشته باشد.

۲- عباراتی (همچون يا معادل آن) در مشخصات مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده درج گرديده باشد.

**تقسيم تدارکات به بخش ها**

**مادهٔ پانزدهم:**

(۱) تقسيم تدارکات به بخش‌ها، در صورتی که از نظر مالی و تخنيکی برای اداره مفاد بيشتر را عايد کند يا اشتراک داوطلبان و تشبثات کوچک داخلی را فراهم نمايد، مجاز می باشد.

(۲) تقسيم تدارکات به بخش ها به منظور اجتناب از تطبيق روش های رقابتی تدارکات و يا عدم تطبيق فقرهٔ (۴) مادهٔ شصت و سوم اين قانون مجاز نمی باشد.

(۳) در حالات مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده معلومات ذيل به داوطلبان داده

داوطلبانو ته ورکول کېږي:

۱- د برخو تعداد، د هرې برخې ماهيت، کميت او کيفيت.

۲- د يوې يا له يوې څخه د زياتو برخو د آفرونو د تسليمۍ د ډول توضيح لدې سره يوځای چې د هرې برخې لپاره جلا آفرونه د وړاندې کولو وړ دي.

۳- د ارزول شوو آفرونو د تر ټولو کم ترکيب په کتلو سره د قرارداد د ورکولو د بنسټ په هکله معلومات.

(۴) اداره کولای شي، په شرطپاڼه کې د درج شوو شرايطو مطابق ټولې برخې يوۀ داوطلب ته ورکړي، پدې شرط چې په دغه ډول سره، تر ټولو کم ارزول شوی آفر، د ټولو برخو له پاره حاصل شي.

(۵)که چېرې يوه يا له يوې څخه زياتې برخې داوطلبانو ته ورنکړل شي، اداره کولای شي يادې شوې برخې له لازم بدلون سره، بيا داوطلبۍ ته وسپاري.

٦- اداره مکلفه ده،په برخو د تدارکاتو وېشل شوي سندونه چې د هغو بيه د اعطاء آمر له واک څخه بهر وي، ددې مادې د (۲) فقرې د حکم له په پام کې

می شود:

۱- تعداد بخش ها، ماهيت، کميت و کيفيت هر بخش.

۲- توضيح نحوۀ تسليمی آفرهای يک يا بيشتر از يک بخش توأم با اينکه آفرهای جداگانه برای هر بخش قابل ارائه است.

۳- معلومات در مورد اساس اعطای قرارداد به رؤيت نازلترين ترکيب آفرهای ارزيابی شده.

(۴) اداره می تواند، تمام بخشها را به يک داوطلب طبق شرايط مندرج شرطنامه اعطاء نمايد، مشروط بر اينکه با اين شيوه، نازلترين آفر ارزيابی شده برای مجموع بخش ها حاصل شود.

(۵) هرگاه يک يا بيشتر از يک بخش به داوطلبان اعطاء نشود، اداره می تواند بخش های متذکره را با تغيير لازم به داوطلبی مجدد بسپارد.

(٦) اداره مکلف است، اسناد تدارکات تقسيم شده به بخش ها را که قيمت مجموع آنها خارج از صلاحيت آمر اعطاء باشد، به ادارۀ تدارکات ملی به

نیولو د ډاډ په منظور، د ملي تـــدارکاتو اداري ته، د بررسۍ او تصمیم نیونې لپاره واستوي.

## درېیم فصل

## د داوطلبۍ پړاوونه

### د داوطلبانو شرایط او اهلیت

**شپاړسمه ماده:**

(۱)د تدارکاتو په پړاوونو کې د لانـــدې شرایطو لرونکی داوطلب، ګډون کولای شي:

۱- د قرارداد د عقد قـــانوني اهلیـــت ولري.

۲- د پورونو له ورکولو څخه عاجز نـــه وي، د تصفیې، ورشکستګۍ یا انحلال په حال کې نـــه وي، د هغـــهٔ ســـوداګریز فعالیتونه له ځنډ(تعلیق) سره مخامخ نه وي او په پورتنیو مواردو کې عدلي او قضایي مراجعو ته ورپېژندل شوی نه وي.

۳- د ګټو ټکر (تضاد) ونلري.

۴- په داوطلبۍ کې له ګډون څخه دمخه د دوو کلونو په ترڅ کې، په سوداګرۍ کې د سرغړونې له امله، د محکمې لخوا

منظور اطمینان از رعایت حکم فقرهٔ (۲) این ماده، جهت بررسی و اتخاذ تصمیم ارسال نماید.

## فصل سوم

## مراحل داوطلبی

### شرایط و اهلیت داوطلبان

**مادهٔ شانزدهم:**

(۱) داوطلب واجد شـــرایط ذیـــل در مراحل تـــدارکات اشـــتراک نمـــوده می تواند:

۱- اهلیت قانونی عقد قرارداد را داشته باشد.

۲- از پرداخت دیون عاجز نبـــوده، در حال تصفیه، ورشکستگی یا انحلال قرار نداشته، فعالیت های تجارتی وی به تعلیق مواجه نباشد و در موارد فوق الذکر به مراجع عدلی و قضائی معرفی نه شـــده باشد.

۳- تضاد منافع نداشته باشد.

۴- درخلال دو سال قبل از اشتراک در داوطلبـــــی، بـــــالاثر تخلـــــف در تجارت، از طـــرف محکمـــه محکـــوم

محکوم شوی نه وي.
۵- داوطلب ددې قانون په پنځوسمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق، د تدارکاتو په پړاوونوکې له ګډون څخه محروم شوی نه وي.
٦- د تدارکاتو لپاره لیاقت او مسلکي او تخنیکي ظرفیت، مالي سرچینې، تجهیزات او نورې فزیکي اسانتیاوې، اداري قابلیت، د تدارکاتو په موضوع کې کافي تجربه، سوداګریز نیک شهرت او لازم کارکوونکي ولري.
۷- د تدارکاتو په کړنلاره کې د درج شوو نورو شرایطو لرل.
(۲) ددې مادې د (۱) فقرې په (٦) جزء کې په درج شوي حالت کې، داوطلب مکلف دی، د تدارکاتو د کړنلارې مطابق، په خپل وړاندې شوي آفر کې، د اړوندې شرطپاڼې پیشبیني شوي شرایط، له مؤثقو مدارکو او سندونو سره یوځای، تثبیت کړي.
(۳) ددې مادې د (۱) فقرې په (۳ ، ۴ او ۵) اجزاووکې درج شوي حکمونه، په داوطلبو مدیرانو او کارکوونکو باندې هم

نگردیده باشد.
۵- داوطلب طبق حکم مادۀ پنجاهم این قانون از اشتراک در مراحل تدارکات محروم نگردیده باشد.
٦- لیاقت و ظرفیت مسلکی و تخنیکی، منابع مالی، تجهیزات و سایر تسهیلات فزیکی، قابلیت اداری، تجربۀ کافی در موضوع تدارکات، شهرت نیک تجارتی و کارکنان لازم را برای تدارکات داشته باشد.
۷- داشتن سایر شرایط مندرج طرزالعمل تدارکات.
(۲) در حالت مندرج جزء (٦) فقرۀ (۱) این ماده، داوطلب مکلف است، شرایط پیشبینی شده شرطنامۀ مربوط را با اسناد و مدارک مؤثق طبق طرزالعمل تدارکات در آفر ارائه شدۀ خویش تثبیت نماید.
(۳) احکام مندرج اجزای (۳، ۴ و ۵) فقرۀ (۱) این ماده بالای مدیران و کارکنان داوطلب نیز قابل تطبیق

د تطبيق وړ دي.

(۴) اداره مکلفه ده، د داوطلب اهليت د اهليت يا شرطپاڼي د دمخه ارزونـــې پــه سندونو کې د ټاکل شــوو شـــرايطو او معيارونو او په دې ماده کې د درج شوو حکمونو مطابق، وارزوي.

(۵) هغه داوطلب چې د خپلو شرايطو او اهليت په هکله يا ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو موضوعاتو په اړه، ناسم يا غير دقيق او نابشپړ معلومات وړاندې او د ادارې د غوښتنې با وجود هغه له ځنډه پرته تصحيح نه کړي، د شــرايطو نــه لرونکی ګڼل کېږي.

## د داوطلب د اهليت د دمخه ارزونه

اوولسمه ماده:

(۱) د آفرونو د سپارلو لپاره د شرايطو لرونکو داوطلبانو د تشخيص په منظور، په پېچلو تدارکاتو او يا د قراردادونو په يوه مجموعه کې، د داوطلـــب د اهليـــت د دمخه ارزونه، ددې قانون د شپاړســـمې مادې د (۱) فقرې د (٦) جزء د حکــم مطابق، صورت مومي.

(۲) د اهليت په دمخه ارزونـــې پـــورې

می باشد.

(۴) اداره مکلف است، اهليت داوطلب را طبق شرايط و معيارهای تعيين شده در اسناد ارزيابی قبلی اهليت يا شرطنامه و احکام مندرج ايـــن مـــاده، ارزيـــابی نمايد.

(۵) داوطلب که درمـــورد شـــرايط و اهليت خود يا در مـــورد موضـــوعات مندرج فقرۀ (۱) اين مـــاده معلومـــات نادرست يا غير دقيق و نامکمل را ارائه و با وجود تقاضای اداره آنرا بدون تأخير تصحيح نه نمايد، غير واجـــد شـــرايط شناخته می شود.

## ارزيابی قبلی اهليت داوطلب

مادۀ هفدهم:

(۱) ارزيابی قبلی اهليت داوطلـــب در تدارکات پيچيده و يا در مجموعه ای از قراردادهـــا بـــه منظـــور تشـــخيص داوطلبان واجد شرايط برای تســـليمی آفرها، طبق حکم جزء (٦) فقـــرۀ (۱) مادۀ شانزدهم ايـــن قـــانون صـــورت می گيرد.

(۲) اسناد مربوط بـــه ارزيـــابی قبلـــی

اړوند سندونه، هغو داوطلبانو ته سپارل کېږي چې د اهليت د دمخه ارزونې د بلنې اعلان ته يې مثبت ځواب ورکړی وي او په هغهٔ کې د اهليت د دمخه ارزونې د غوښتنليک د بشپړېدو لپاره لازم معلومات، درج شوي وي.

(۳) که چېرې د اهليت د دمخه ارزونې د سندونو د څرګندتيا په اړه غوښتنه صورت ومومي، اداره د تدارکاتو د کړنلارې مطابق، دهغې ځواب ټولو داوطلبانو ته وړاندې کوي.

په هغهٔ صورت کې چې داوطلبانو ته د ځواب د وړاندې کولو لپاره اضافي وخت ته اړتيا وي، اداره مکلفه ده، د غوښتنليکونو د وړاندې کولو ټاکل شوې موده، له احوالو سره سم، تمديد کړي.

(۴) اداره، داهليت د دمخه ارزونې په اړه دهر غوښتنليک په هکله، تصميم نيسي او ټولو هغو داوطلبانو ته چې د اهليت په دمخه ارزونه کې بريالي شوي دي، بلنه ورکوي چې خپل آفرونه تدارکاتي پړاوونو دتېرولو لپاره تسليم کړي.

(۵)نور هغه موارد چې د داوطلبانو د

اهليت، به داوطلبانی سپرده می شود که به اعلان دعوت ارزيابی قبلی اهليت پاسخ مثبت داده و در آن معلومات لازم برای تکميل درخواست ارزيابی قبلی اهليت، درج شده باشد.

(۳) هرگاه تقاضای مبنی بر توضيح اسناد ارزيابی قبلی اهليت صورت گيرد، اداره طبق طرزالعمل تدارکات، پاسخ آن را به تمام داوطلبان ارائه می نمايد.

در صورتی که برای ارايهٔ پاسخ داوطلبان ضرورت به وقت اضافی باشد، اداره مکلف است ميعاد معينه ارائه درخواست‌ها را حسب احوال تمديد نمايد.

(۴) اداره در مورد هر درخواست مبنی بر ارزيابی قبلی اهليت، تصميم اتخاذ و از تمام داوطلبانی که در ارزيابی قبلی اهليت مؤفق شده اند، دعوت به عمل می آورد تا آفرهای خويش را برای طی مراحل تدارکات تسليم نمايند.

(۵) ساير مواردی که ايجاب ارزيابی

اهليت د دمخــه ارزونــه ايجــابوي، د تدارکاتو په کړنلاره کې پيشبيني کېږي.

## د تدارکاتو تګلارې

**اتلسمه ماده:**

(۱) تــدارکات، لــه لانــدې ملــي او بين المللي تګلارو څخه د يوې پر بنسټ صورت مومي:

۱- د نرخ اخيستنې غوښتنليک.

۲- پرانستې داوطلبي.

۳- مقيده داوطلبي.

۴- له واحدې سرچينې (منبع)، څخــه تدارک.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو تګلارو څخه د اســتفادې ډول او شرايط، د تدارکاتو پــه کــړنلاره کــې تنظيمېږي.

(۳) ددې قانون د حکمونــو مطــابق، د تدارکاتو د پړاوونو د پرمخ بيولو له پاره مناسبې تګلارې، د تدارکاتو د ادارې په پلان کې، پيشبيني کېږي.

(۴) د ملي تدارکاتو اداره کولای شــي، ددې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوو تګلارو سربېره، عندالضــرورت د نــوو

قبلی اهليت داوطلبان را می نمايــد در طرزالعمل تدارکات پيشبينی می گردد.

## روش های تدارکات

**مادۀ هجدهم:**

(۱) تدارکات، به يکی از روش هــای ملی يا بــين المللــی ذيــل صــورت می گيرد:

۱- درخواست نرخ گيری.

۲- داوطلبی باز.

۳- داوطلبی مقيد.

۴- تــــــدارک از منبــــــع واحد.

(۲) طرز و شرايط استفاده از روش های منــدرج فقــرۀ (۱) ايــن مــاده در طرزالعمــــل تــــدارکات تنظــــيم می گردد.

(۳) روش مناسب برای پيشبرد مراحل تدارکات طبــق احکــام ايــن قــانون در پــلان تــدارکات اداره، پيشــبينی می گردد.

(۴) اداره تدارکات ملی مــی توانــد علاوه بر روش هــای منــدرج فقــرۀ (۱) اين ماده، عندالضرورت روش های

تدارکاتو تګلارې، د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې ته وړاندیز کړي.د نوو تدارکاتو تګلاره د کابینې له تصویب او د تدارکاتو په کړنلاره کې د هغې له درجولو وروسته، نافذه او مرعي الاجراء ده.

(۵) په عمومي صورت سره تدارکات، د پرانستې داوطلبۍ له لارې صورت مومي. که چېرې تدارکات د پرانستې داوطلبۍ له لارې ممکن نه وي، اداره په دې ماده کې له درج شوو تګلارو څخه له یوې لارې د تدارکاتو د کړنلارې مطابق، په دې هکله اقدام کوي او د هغې دلایل لیکي.

## د تدارکاتو اعلان او د هغهٔ خپرول

نولسمه ماده:

(۱) د تدارکاتو اعلان د لاندې مطالبو لرونکی وي:

۱- د تدارکاتو موضوع.

۲- د شرطپاڼې د حصول ډول.

۳- د آفرونو د تسلیمۍ د مودې ټاکل او د آفر د پرانیستلو د غونډې د جوړېدو وخت او ځای.

۴- د ادارې آدرس.

تدارکات جدید را به کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان پیشنهاد نماید. روش تدارکات جدید بعد از تصویب کابینه و درج آن در طرزالعمل تدارکات نافذ و مرعی الاجراء می باشد.

(۵) تدارکات به صورت عموم از طریق داوطلبی باز صورت می گیرد. هرگاه تدارکات از طریق داوطلبی باز ممکن نباشد، اداره از طریق یکی از روش های مندرج این ماده طبق طرزالعمل تدارکات، در مورد اقدام و دلایل آن را تحریر می نماید.

## اعلان تدارکات و نشر آن

مادهٔ نزدهم:

(۱) اعلان تدارکات حاوی مطالب ذیل می باشد:

۱- موضوع تدارکات.

۲- طرز حصول شرطنامه.

۳- تعیین مدت تسلیمی آفرها و زمان و محل تدویر جلسه آفرگشایی.

۴- آدرس اداره.

۵- د تضميناتو اخيستل.

۶- د اړتيا وړ نور معلومات چې تدارکاتو ته ددې قانون د حکمونو مطابق صراحت وربښي.

(۲) اداره مکلفه ده، د اهليت د دمخه ارزونې د بلنې اعلان او د تدارکاتو اعلان په خپل لګښت له کثير الانتشار ټوليزو رسنيو څخه په يوې کې، خپور کړي.

(۳) اداره مکلفه ده، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي سندونه، داسې ترتیب او د غوښتونکي په لاس رسی کې ورکړي چې په هغو پورې د اړوندو ســوداګریزو معلوماتو محرمیت، وساتل شي.

(۴) اداره مکلفه ده، د اړوندو تدارکاتي فعالیتونو رپوټ چــې محتویــات، ډول، تناوب او د وړاندې کولو نېټه په هغهٔ کې توضیح کېږي او د اړوندو تــدارکاتو د قراردادونو په هکلــه لنــډ رپــوټ، د تدارکاتو د کــړنلارې مطــابق، برابــر او دملي تدارکاتو ادارې تــه وړانــدې کړي.

## د قراردادونو ثبتول

### شپږڅلوېښتمه ماده:

اداره مکلفه ده، د تدارکاتو قرارداد، لــه عقد وروســته، د پــام وړ معلومــاتو د راټولولو پــه منظــور، د تــدارکاتو د کړنلارې مطابق، د ثبت له پاره د ملــي تدارکاتو ادارې ته واستوي.

ملی، طــور دیگــری تجــویز اتخــاذ نموده باشد.

(۳) اداره مکلــف اســت، اســناد مندرج فقرهٔ (۱) این مــاده را طــوری ترتیب و بدسترس متقاضی قرار دهد که محرمیت معلومات تجــارتی آن حفــظ گردد.

(۴) اداره مکلــف اســت، گــزارش فعالیت های تدارکاتی مربــوط را کــه محتویات، شکل، تناوب و تاریخ ارائه در آن توضــیح مــی گــردد و گــزارش مختصر در مورد قراردادهای تدارکات مربوط را، طبق طرزالعمل تدارکات، تهیه و بــه اداره تــدارکات ملــی ارائــه نماید.

## ثبت قراردادها

### مادهٔ چهل وششم:

اداره مکلف است، قرارداد تدارکات، را بعد از عقد، بــه منظــور جمــع آوری معلومات مورد نظر، طبــق طرزالعمــل تدارکات، جهت ثبت به اداره تدارکات ملی ارسال نماید.

## د تدارکاتو د کارکوونکو مکلفیت

**اووه څلوېښتمه ماده:**

(۱) د تدارکاتو کارکوونکي، د لاندې مراتبو په رعایتولو مکلف دي:

۱- له هغو تصمیمونو څخه څارنه چې ددې قانون د حکمونو د ښه تطبیق او د عامه ګټو د تأمین له پاره د معلوماتو او ښه نیت پربنسټ نیول کېږي.

۲- له دې څخه ډاډ ترلاسه کول چې داوطلبان د تدارکاتو په پړاوونو او د قرارداد په عقد کې، له یو شان شرایطو څخه برخمن شوي دي.

۳- په مستقیمه یا نامستقیمه توګه په اړوندو اجراآتو کې، د ګټې (منفعت) له ترلاسه کولو او د سندونو له تزویر څخه ډډه کول.

۴- په مستقیمه یا نا مستقیمه توګه د ګټو نه تضاد.

۵- د سندونو له نه تزویر، د ګټې (منفعت) یا تطمیع له نه وړاندیز څخه ډاډ ترلاسه کول او اړوندو مراجعو ته په لنډ وخت کې د هغو رپوټ ورکول.

۶- د تدارکاتو د پړاوونو، ترلاسه شوو

## مکلفیت کارکنان تدارکات

**مادۀ چهل وهفتم:**

(۱) کارکنان تدارکات، مکلف به رعایت مراتب ذیل می باشند:

۱- مراقبت از تصامیمی که بر اساس معلومات و حسن نیت درمورد تدارکات جهت تطبیق بهتر احکام این قانون و تأمین منافع عامه اتخاذ می گردد.

۲- حصول اطمینان از اینکه داوطلبان در مراحل تدارکات و عقد قرارداد از شرایط یکسان مستفید گردیده اند.

۳- اجتناب از کسب منفعت و تزویر اسناد در اجراآت مربوط، طور مستقیم یا غیر مستقیم.

۴- عدم تضاد منافع طور مستقیم یا غیر مستقیم.

۵- حصول اطمینان از عدم تزویر اسناد، پیشنهاد منفعت یا تطمیع و گزارش آن در اسرع وقت به مراجع مربوط.

۶- اجتناب از افشای معلومات محرم

آفرونو، د داوطلبانو په شتمنۍ پورې د اړوندو معلوماتو په شمول، د داوطلبانو په هکله د محرمو معلوماتو له افشاء څخه ډډه کول.

۷- د تدارکاتو د پړاوونو تر اغېزې لاندې د راوستلوپه منظور، د نه واقعي معلوماتو له ورکولو څخه ډډه کول.

۸- د تدارکاتو په پړاوونو کې، له داوطلبانو، تدارکاتي کارکوونکو او ثالثو اشخاصو سره، له سازش(تباني) څخه ډډه کول.

۹- د سيالي كوونكو داوطلبانو د ګډون په کار کې، په داسې ډول چې د تدارکاتو د پړاوونو روڼتوب (شفافيت) اغېزمن کړي، له لاسوهنې څخه ډډه کول.

(۲) د تدارکاتو رئيسان، د ارزونې او کتنې د هيئت غړي تدارکاتي چارو ته د توظيف پر وخت، لاندې حلف پر ځای کوي:

« د خدای (ج) په نامه سوګند يادوم چې د سپارل شوو دندو په اجراء کې خدای (ج) حاضر او ناظر ګنم او د عامه تدارکاتو چارې، ددې قانون د حکمونو

در مورد مراحل تدارکات، آفرهای دریافت شده و داوطلبان، بشمول معلومات مربوط به دارائی داوطلبان.

۷- اجتناب از ارایهٔ معلومات غیر واقعی به منظور تحت تأثیر قراردادن مراحل تدارکات.

۸- اجتناب از سازش (تبانی) با داوطلبان، کارکنان تدارکاتی و اشخاص ثالث در مراحل تدارکات.

۹- اجتناب از مداخله در امر اشتراک داوطلبان رقابت کننده، به نحوی که شفافیت مراحل تدارکات را متأثر سازد.

(۲) رؤسای تدارکات، اعضای هیئت ارزیابی و معاینه حین توظیف به امور تدارکاتی حلف آتی را بجا می آورند:

«به نام خداوند (ج) سوگند یاد می کنم که در اجرای وظایف محوله، خداوند (ج) را حاضر و ناظر دانسته و امور تدارکات عامه را مطابق احکام این قانون

مطابق په بشپړ صداقت او امانــت داری سره سرته رسوم».

(۳) که چېرې د تدارکاتو کارکوونکي ددې قانون له حکمونو څخه سرغړاوی او تخلف وکړي، پر تأدیب برسېره، د قانون د حکمونو مطابق، تر عدلي تعقیب لاندې هم نیول کېږي.

(۴) هېڅ شخص یا مقام نه شي کولای، پر تدارکاتي کارکوونکو باندې اعــمال نفوذ وکړي او یا له خپل وظیفوي موقف څخه په استفادې د تدارکاتو کارکوونکی عمل چې په سرته رسولو یې مکلف دی، د اجراء یا ډډې کولو په منظور، تر فشار لاندې راولي.

## د داوطلب او قراردادي مکلفیتونه

اته څلوېښتمه ماده:

(۱) داوطلب او قراردادي ، ددې قانون حکمونو ته په پام سره، د لاندې مراتبو په رعایتولو مکلف دي:

۱- د تدارکاتو د پړاوونو تــر اغېــزې لاندې د راوستلو او د قرارداد د لاس ته راوړلو په منظور، د نه واقعي معلوماتو له وړاندې کولو څخه ډډه کول.

با کمال صداقت و امانت داری انجــام می دهیم».

(۳) هرگـــاه کارکنـــان تـــدارکات از احکام این قانون تخطی یا تخلف نمایند، علاوه بر تأدیب طبق احکـــام قـــانون مـــورد تعقیـــب عـــدلی نیـــز قـــرار می گیرند.

(۴) هیچ شخص یا مقامی نمی توانـــد، بالای کارکنان تدارکاتی اعمال نفـــوذ نماید و یـــا بـــا اســـتفاده از موقـــف وظیفوی خود کارکن تدارکات را بـــه منظور اجراء و یا امتناع از عملی کـــه مکلف به انجام آن است، تحت فشـــار قرار دهد.

## مکلفیت های داوطلب و قراردادی

مادۀ چهل وهشتم:

(۱) داوطلب و قراردادی، با نظر داشت احکام این قانون، مکلف بـــه رعایـــت مراتب ذیل می باشند:

۱- اجتناب از ارایۀ معلومات غیر واقعی به منظور تحت تأثیر قراردادن مراحـــل تـــــــدارکات و بدســـــــت آوردن قرارداد.

۲- په مستقيمه يا نا مستقيمه توګه، د سندونو له تزوير يا د ګټې يا تطميع له وړانديز يا وعدې څخه ډډه کول.

۳- د تدارکاتو په پړاوونو کې له نورو داوطلبانو او د تدارکاتو له کارکوونکو سره له سازش له (تبانی)څخه ډ ډه کول.

۴- په مستقيمه يا نا مستقيمه توګه د تدارکاتو د کارکوونکو له هر ډول ځورولو (خشونت)، تهديد او يا تر اغېزې لاندې له راوستلو څخه ډډه کول.

۵- په مستقيمه يا نا مستقيمه توګه پر اداري يا اړوندو کارکوونکو باندې، د تهمت، افتراء او ناسمې ادعاء له ايراد څخه ډډه کول.

٦- د سيالۍ کوونکو داوطلبانو د ګډون په کار کې، په داسې ډول چې د تدارکاتو د پړاوونو شفافيت اغېزمن کړي، له لاس وهنې څخه ډډه کول.

۷- د نورو داوطلبانو د اسرارو له افشاء څخه ډډه کول.

(۲) قراردادي نه شي کولای، عقد شوی قرارداد له بل شخص سره قرارداد کړي. ددې قانون د حکمونو مطابق د فرعي

۲- اجتناب از تزوير اسناد و پيشنهاد يا وعده به منفعت يا تطميع، طور مستقيم يا غير مستقيم.

۳- اجتناب از سازش (تبانی) با ساير داوطلبان و کارکنان تدارکات در مراحل تدارکات.

۴- اجتناب از اعمال هرگونه خشونت، تهديد و يا تحت تاثير قرار دادن کارکنان تدارکات طور مستقيم يا غير مستقيم.

۵- اجتناب از ايراد تهمت، افتراء و ادعای نادرست بالای اداره و يا کارکنان مربوط طور مستقيم يا غيرمستقيم.

٦- اجتناب از مداخله در امر اشتراک داوطلبان رقابت کننده، به نحوی که شفافيت مراحل تدارکات را متأثر سازد.

۷- اجتناب از افشای اسرار ساير داوطلبان.

(۲) قراردادی نمی تواند، قرارداد عقد شده را با شخص ديگر قرارداد نمايد. عقد قرارداد فرعی، مطابق

قرارداد عقد، له دې امر څخه مستثني دی.

(۳) قراردادي نه شي کولای، خپل کليدي کارکوونکي بدل کړي، خو دا چې بدلونونه د سپارل شوې دندې د هدفونو د ښه تأمين په منظور، اړين وي، په دې صورت کې د ادارې د ليکلي موافقې له ترلاسه کولو وروسته، هغه کليدي کارکوونکي چې د پخوانيو کارکوونکو د ځای ناستې کېدو په منظور، وړانديز شوي له هغو څخه د مساوي او ښه اهليت او وړتيا لرونکي وي.

(۴) هغه داوطلبان چې د هغو له مالکانو څخه يو ګډ (مشترک) وي، په عين داوطلبۍ کې، ګډون نه شي کولای.

(۵) اداره مکلفه ده، ددې مادې په ( ۲، ۳، ۴، ۵ او ٦ ) اجزاوو کې په درج شوو حالاتو کې، موضوع عدلي او قضايي مراجعو ته خبر ورکړي.

## د داوطلب او قراردادي محروميت

### نهه څلوېښتمه ماده:

(۱) د ملي تدارکاتو اداره، داوطلب يا

احکام اين قانون از اين امر مستثنی است.

(۳) قراردادی نمی تواند، کارکنان کليدی خود را تعويض نمايد، مگر اينکه تغييرات به منظور تأمين بهتر اهداف وظيفه محوله، ضرور باشد، در اين صورت پس از حصول موافقه کتبی اداره، کارکنان کليدی که به منظور جانشين شدن کارکنان قبلی پيشنهاد شده، دارای اهليت و شايستگی مساوی يا بهتر از آنها باشند.

(۴) داوطلبانی که يکی از مالکين آنها مشترک باشد، در عين داوطلبی، اشتراک کرده نمی تواند.

(۵) اداره مکلف است، در حالات مندرج اجزای (۲، ۳، ۴، ۵ و ٦) فقرهٔ (۱ ) اين ماده موضوع را به مراجع عدلی و قضايی اطلاع دهد.

## محروميت داوطلب و قراردادی

### مادهٔ چهل ونهم:

(۱) اداره تدارکات ملی، داوطلب يا

قراردادي په لاندې حالاتو کې د تدارکاتو په پړاوونو کې له ګډون څخه له احوالو سره سم د هغې مودې له پاره چې له دوو کلونو لږ او له پنځو کلونو څخه زيات نه وي محروموي:

۱- ددې قانون د اته څلوېښتمې مادې د حکم د نه رعايتولو په صورت کې.

۲- د تدارکاتو په بشپړ شوي قرارداد کې د سرغړونې د ثابتېدو په صورت کې چې د هغهٔ له امله محروم شوی نه وي.

۳- د تدارکاتو د قرارداد يا فرعي قرارداد له سرغړونو سره په ارتباط، په جزاء محکوميت.

۴- په هغهٔ صورت کې چې قرارداد په هغهٔ کې د درج شوو ژمنو او شرايطو له سرته رسولو څخه د قراردادي د سرغړونې له امله، فسخ شوی وي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې سرغړونې، د داوطلب يا قراردادي له خوا تکرار شي، د ملي تدارکاتو اداره، له احوالو سره سم له پنځو څخه تر لسوکلونو پورې او دبيا تکرار په صورت کې، د تدارکاتو په

قراردادی را در حالات ذیل از اشتراک در مراحل تدارکات حسب احوال برای مدتی که از دو سال کمتر و از پنج سال بیشتر نباشد، محروم می نماید:

۱- در صورت عدم رعایت حکم مادهٔ چهل و هشتم این قانون.

۲- در صورت اثبات تخلف در قرارداد تدارکات تکمیل شده که بالاثر آن محروم نگردیده باشد.

۳- محکومیت به جزاء در ارتباط با تخلفات قرارداد یا قرارداد فرعی تدارکات.

۴- در صورتی که قرارداد به اثر تخطی قراردادی از ایفای تعهدات و شرایط مندرج آن فسخ گردیده باشد.

(۲) هرگاه تخلفات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده از طرف داوطلب یا قراردادی تکرار گردد، اداره تدارکات ملی حسب احوال، وی را از پنج الی ده سال و در صورت تکرار مجدد، از اشتراک در مراحل

پراوونو کې له ګډون څخه په دايمي توګه محروموي.

(۳) اداره ددې مادې پــه ( ۱ او ۲ ) فقرو کې په درج شوو حالاتو کې مکلفه ده، موضوع په لنډ وخت کې، له اړوندو سندونو او مدارکو سره يو ځای، د ملي تدارکاتو ادارې ته رسماً راجع کړي.

(۴) د داوطلب يا قراردادي د محروميت په صورت کې، اداره په لاندې اقــداماتو مکلفه ده:

۱- د داوطلب د آفر تضمين دې، ددې قانون د نهه ويشتمې مادې مطــابق، نــه مستردوي.

۲- د قراردادي د کار د اجراء تضمين او يا د هغهٔ معادل دې د هغهٔ له ورکړو او تأميناتو څخه ترلاسه (حصول) کړي.

۳- د تضمينونو د نــه موجوديــت پــه صورت کې، اداره مکلفــه ده، د لــويې څارنوالۍ په همکارۍ د تضمينونو مبالغ له داوطلب يا قــراردادي څخــه ترلاســه کړي.

(۵) که چېرې داوطلب يا قــراردادي، ددې مادې په (۱ او ۲ ) فقرو کې پــه

تــــــدارکات، طــــــور دايـــــــم محروم می نمايد.

(۳) اداره در حالات مندرج فقره های (۱ و ۲) اين ماده مکلف است، موضوع را به اسرع وقت، تــوأم بــا اســناد و مدارک مربوط، به اداره تدارکات ملی رسماً ارجاع نمايد.

(۴) در صورت محروميت داوطلب يــا قراردادی، اداره مکلف به اقدامات ذيل می باشد:

۱- تضمين آفر داوطلب را مطابق مادهٔ بيست ونهــم ايــن قــانون مســترد ننمايد.

۲- تضمين اجرای کار قراردادی و يــا معادل آن را از پرداخت ها و تأمينــات وی حصول نمايد.

۳- در صـــورت عـــدم موجوديـــت تضمينات، اداره مکلــف اســت، بــه همکاری اداره لوی څــارنوالی مبــالغ تضمينات را از داوطلب يا قــراردادی حصول نمايد.

(۵) هرگاه داوطلب يا قــراردادی در حالات مندرج فقره های (۱ و ۲) ايــن

درج شوو حالاتو کې د تــدارکاتو پــه پړاوونو کې له ګډون څخه محروم شي، کولای شي د محرومیت له نېټې څخه، د تدارکاتو په کړنلاره کې په درج شــوې ټاکلې نېټه کې، د نــوې کتنــې پــه اړه غوښتنلیک، ددې قانون د پنځوسمې مادې په (۲) فقره کــې د درج شــوې اداري بررسۍ کمیټې ته، له دلایلو سره یو ځای په صریحه توګه وړاندې کړي.

(۶) د ســـرغړوونکي داوطلـــب او قراردادي د محرومیت ډول پـــه جـــلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

## اعتراض او نوې کتنې ته د رسیدګۍ حق

**پنځوسمه ماده:**

(۱) که چېرې داوطلب، ددې قانون لـــه حکمونو څخه د سرغړونې له امله، زیانمن شي کولای شي خپل اعتراض یـــوازې د قرارداد د ورکړې د تصمیم په خبرتیا کې، د درج شوې مودې په ترڅ کې، اړوندې ادارې ته وړاندې کړي.

(۲) د نوې کتنې د غوښتنلیک د بررسۍ او پر اړوندو اعتراضونو د غور په منظور،

مـــاده از اشـــتراک در مراحـــل تـــدارکات محـــروم گـــردد، می تواند از تاریخ محرومیت، در میعاد معینه منـــدرج طرزالعمـــل تـــدارکات، درخواست مبنـــی بـــر تجدیـــد نظـــر را به کمیته بررسی اداری مندرج فقـــرۀ (۲) مادۀ پنجاهم این قانون تـــوأم بـــا دلایـــل طـــور صـــریح ارائـــه نماید.

(۶) طـــرز محرومیـــت داوطلـــب و قراردادی متخلف در طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

## حق رسیدگی به اعتراض و تجدید نظر

**مادۀ پنجاهم:**

(۱) هرگـــاه داوطلـــب بـــالاثر تخلف از احکام این قانون متضرر گردد، می تواند اعتراض خویش را صـــرف در خلال میعاد مندرج اطلاعیـــه تصـــمیم اعطای قرارداد به اداره مربـــوط ارائـــه نماید.

(۲) به منظور بررسی درخواست تجدید نظر و غور بر اعتراضات مربوط، رئیس

د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس له متخصصینو څخه جوړ ه د اداري بررسۍ کمیټه رامنځته او توظیفوي.

(۳) اداره ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې مکلفه ده، د تدارکاتو په کړنلاره کې د درج شوې مودې په ترڅ کې، خپل ځواب په رسمي توګه داوطلب ته ابلاغ کړي.

په هغهٔ صورت کې چې داوطلب د ادارې په ځواب قناعت ونه لري، کولای شي د نوې کتنې غوښتنلیک، په لیکلې توګه د هغې له دلایلو سره یوځای ، په صریح ډول د اداري بررسۍ کمیټې ته وړاندې کړي.

(۴) د اداري بررسۍ د کمیټې تصمیم وروستی(نهایي)دی.

(۵) د اداري بررسۍ د کمیټې د فعالیت ډول، په جلا کړنلاره کې تنظیمیږي.

## د قرارداد د شخړو حل

### یو پنځوسمه ماده:

د تدارکاتو د قرارداد د شخړو د حل او فصل تګلاره او مراجع، د هغو تطبیق، ځنډول، ورکړې، مکلفیتونه او په هغو

جمهوری اسلامی افغانستان، کمیتهٔ بررسی اداری متشکل از متخصصین را ایجاد و توظیف می نماید.

(۳) اداره، در حالت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مکلف است، در خلال میعاد مندرج طرزالعمل تدارکات، پاسخ خویش را طور رسمی به داوطلب ابلاغ نماید.

در صورتی که داوطلب به پاسخ اداره قناعت نداشته باشد، می تواند درخواست تجدید نظر را توأم با دلایل آن طور کتبی، به کمیته بررسی اداری ارائه نماید.

(۴) تصمیم کمیته بررسی اداری نهایی می باشد.

(۵) طرز فعالیت کمیته بررسی اداری در طرزالعمل جداگانه تنظیم می‌گردد.

## حل منازعات قرارداد

### مادهٔ پنجاه ویکم:

روش و مراجع حل و فصل منازعات قرارداد تدارکات، تطبیق آن، تأخیر، پرداخت ها، مکلفیت ها و سایر امور

پورې نور اړوند موارد په قرارداد کې ټاکل کېږي.

## له څارنيزو مراجعو سره همکاري

**دوه پنځوسمه ماده:**

(۱) د تدارکاتو په پړاوونو کې ادارې، اړوند کارکوونکي او نور ذيدخل اشخاص مکلف دي، د ملي تدارکاتو له ادارې او نور و هغو مراجعو سره چې د اړونـدو تقنيني سندونو مطـابق، د تـدارکاتو د بررسۍ او څارنې د واک لرونکـي دي، لازمه همکاري وکړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو مراجعو مـوٌظفين، مکلـف دي، د تدارکاتو د پړاوونو دبررسۍ او څـارنې چارې، ددې قـانون د حکمونـو او د تدارکاتو دکـړنلارې مطـابق، سـرته ورسوي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کـې درج شوې ادارې او مراجع، مکلـف دي، د موٌظفينو او خپلو مسلکي کارکوونکو د ظرفيت د لوړولو زمينه ، د ملي تدارکاتو له ادارې سره په همکارۍ کې، برابـره کړي.

مربـوط بـه آن در قـرارداد تعيـين می گردد.

## همکاری با مراجع نظارتی

**مادۀ پنجاه ودوم:**

(۱) ادارات، کارکنان مربوط و سـاير اشخاص ذيدخل در مراحل تـدارکات مکلف اند، با اداره تدارکات ملـی و ساير مراجعی که صلاحيت بررسـی و نظارت از تدارکات را طبق اسناد تقنينی مربوط دارا می باشند، همکـاری لازم نمايند.

(۲) مؤظفين مراجـع منـدرج فقـرۀ (۱) اين مـاده، مکلـف انـد، امـور بررسـی و نظـارت از مراحـل تـدارکات را طبـق احکـام ايـن قانون و طرزالعمل تـدارکات انجـام دهند.

(۳) ادارات و مراجع منـدرج فقـرۀ (۱) اين ماده، مکلـف انـد، زمينـه ارتقای ظرفيت مـؤظفين و کارکنـان مسـلکی خـويش را در همکـاری بـا اداره تـدارکات ملـی فـراهم نمايند.

## اووم فصل

## د تدارکاتي ادارو مکلفيت

### د ادارې مکلفيت

**دري پنځوسمه ماده:**

(۱) اداره مکلفه ده، د ملي تدارکاتو له ادارې سره په همکارۍ کې، د اړوندو کارکوونکو د ظرفيت د لوړولو زمينه برابره کړي.

(۲) اداره مکلفه ده، قراردادونه مديريت او د قرارداد د مندرجاتو مطابق د هغهٔ د اعتبار په موده کې تطبيق او د تدارکاتو د قانون د حکمونو او کړنلارې مطابق د هغهٔ له بشپړتيا او اغېزمنې اجراء څخه څارنه او مراقبت وکړي.

(۳) اداره د بشپړو او اجراء شوو پروژو، د هغو د استهلاک په وخت موده کې په درستې، اغېزمنې او متداومې ساتنې او څارنې مکلفه ده.

(۴) اداره د اجناسو، خدمتونو او ودانيزو (ساختماني) چارو، د کميت او کيفيت په ارزونې او کنترول مکلفه ده.

(۵) د تدارکاتو څانگه د لاندې دندو

## فصل هفتم

## مکلفيت ادارات تدارکاتی

### مکلفيت اداره

**مادهٔ پنجاه وسوم:**

(۱) اداره مکلف است، در همکاری با اداره تدارکات ملی، زمينه ارتقای ظرفيت کارکنان مربوط را فراهم نمايد.

(۲) اداره مکلف است، قراردادها را مديريت و مطابق مندرجات قرارداد در ميعاد اعتبار آن تطبيق و از اکمال و اجرای مؤثر آن مطابق احکام قانون و طرزالعمل تدارکات، نظارت و مراقبت نمايد.

(۳) اداره مکلف به حفظ و مراقبت درست، مؤثر و متداوم پروژه های اکمال و اجراء شده در ميعاد زمان استهلاک آن، می باشد.

(۴) اداره مکلف به ارزيابی و کنترول کميت و کيفيت اجناس، خدمات و امور ساختمانی می باشد.

(۵) شعبه تدارکات دارای وظايف ذيل

لرونکې ده:

۱- د تدارکاتو د پلان برابرول او ترتیب.

۲- د داوطلبۍ د اعلان ترتیب، د غوښتنلیک، شرطپاڼې، د وړاندیز او نورو تدارکاتي سندونو د وړاندې کولو ډول، خپرول او پر وخت د هغو وېشل.

۳- د آفرونو اخیستل او د وړاندیزونو غوښتنه او د پړاوونو د تېرولو په غرض، د هغو وړاندې کول.

۴- ددې قانون د حکمونو مطابق، د قرارداد د سندونو تنظیم.

۵- ددې قانون د اوومې او اتمې مادې د حکمونو د تطبیق له پاره د اسانتیاوو برابرول.

۶- د کتنې(معاینې) د هیئت له خوا د تحویلخانې د موجودۍ په وخت د اړوندو تقنیني سندونو له رعایت څخه ډاډ ترلاسه کول.

۷- په تحویلخانو کې د مالونو له موجودۍ څخه مداومه څارنه او کنترول او د کلني رپوټ برابرول.

۸- ددې قانون د شپږڅلوېښتمې مادې د حکم مطابق، د اداري او د ملي تدارکاتو

می باشد:

۱- تهیه و ترتیب پلان تدارکات.

۲- ترتیب اعلان داوطلبی، طرز ارائه درخواست، شرطنامه، پیشنهاد و سایر اسناد تدارکات، نشر و توزیع بموقع آنها.

۳- اخذ آفرها و مطالبه پیشنهادات و ارائه آن ها غرض طی مراحل.

۴- تنظیم اسناد قرارداد مطابق احکام این قانون.

۵- فراهم نمودن تسهیلات جهت تطبیق حکم مواد هفتم و هشتم این قانون.

۶- حصول اطمینان از رعایت اسناد تقنینی مربوط حین موجودی تحویلخانه از طرف هیئت معاینه.

۷- نظارت و کنترول مداوم و تهیه گزارش سالانه از موجودی اموال در تحویلخانه ها.

۸- ثبت قراردادها در مرکز معلومات (دیتابیس) اداره و اداره

د اداري د معلوماتو په مرکز(ديتـــابېس) کې، د قراردادونو ثبتول او په فزيکي او الکترونيکي صورت د پاڼو او ســندونو ساتل.

۹- د تدارکاتو د قانون د حکمونـــو او کړنلارې مطابق د نورو سپارل شوو دندو اجراء.

(۶) د تدارکاتي چارو د بررسۍ (پلټنې) مسئولين يا اعطاء آمران، نه شي کولای د آفر پرانستنې، ارزونې او کتنې د هيئت د غړو په توګه دنده سرته ورسوي.

## د ملي تدارکاتو کمېسيون

### څلور پنځوسمه ماده:

(۱) د اعطاء آمر له واک څخه د بهـــر تدارکاتي قراردادونـــو د بررســـۍ او د ورکـــړې (اعطـــاء) د منظـــورۍ او د تدارکاتي ادارو د دندو او واک د حدودو د ټاکلو له پاره، د افغانســـتان اســـلامي جمهوريت د رئيس لـــه خـــوا، د ملـــي تدارکاتو کمېسيون جوړېږي.

(۲) د افغانستان اســـلامي جمهوريـــت رئيس، د ملي تدارکاتو د کمېسيون رئيس او غړي ټاکي او عندالضرورت د هغهٔ په

تدارکات ملی طبق حکم مادهٔ چهـــل و ششـــم ايـــن قـــانون و حفـــظ اوراق و اســـناد بـــه صـــورت فزيکـــی و الکترونيکی.

۹- اجرای ساير وظايف محوله طبـــق احکـــــام قـــــانون و طرزالعمـــــل تدارکات.

(۶) مسئولين بررسی (تفتـــيش) امـــور تدارکات يا آمرين اعطاء نمی تواننـــد، بحيث اعضای هيئت آفرگشايی، ارزيابی و معاينه ايفای وظيفه نمايند.

## کميسيون تدارکات ملی

### مادهٔ پنجاه وچهارم:

(۱) جهت بررسی و منظوری اعطـــای قراردادهای تدارکات خارج از صلاحيت آمـــر اعطـــاء و تعيـــين حـــدود وظايف و صلاحيت ادارات، کميسيون تـــدارکات ملـــی از طـــرف رئـــيس جمهوری اســـلامی افغانســـتان ايجـــاد می گردد.

(۲) رئيس جمهوری اسلامی افغانستان، رئيس و اعضای کميسيون تدارکات ملی را تعيين و عندالضرورت در ترکيب آن

ترکیب کې بدلونونه راولي(واردوي).

(۳) د ملي تدارکاتو کمېسیون، مکلف دی، د رسېدلو قراردادونو د ورکړې وړاندیزونه بررسي او د بشپړو او تصحیح شوو سندونو د رسېدو له نېټې څخه اقل حد د (۲۸) کاري ورځو په ترڅ کې، د هغو د رد، اعادې یا منظورۍ په اړه دې تصمیم ونیسي. پرته لــه دې، قــرارداد منظور شوی ګڼل کېږي.

(۴) د ملي تدارکاتو کمېسیون کــولای شي عندالضرورت د ملــي تــدارکاتو د اداري په وړاندیز، د ادارې د دنــدو او واکونو په حدودو نوې کتنه وکړي.

(۵) د ملي تدارکاتو کمېسیون، په خاصو مواردو کې، د حالاتو څرنګــوالي او د هېواد لوړو ګټو ته په پام سره، مناســب تصمیمونه نیسي.

(۶) د ملــي تــدارکاتو اداره، د ملــي تدارکاتو د کمېسیون پــه واک کــې د شاملو قراردادونو د چــارو د تنظــیم او سمون په منظور، د ملــي تــدارکاتو د کمېسیون دارالانشاء رامنځته کوي.

(۷) د ملي تدارکاتو د کمېسیون او د

تغییرات را وارد می نماید.

(۳) کمیسیون تدارکات ملی، مکلــف است، پیشنهادهای اعطای قراردادهای واصله را بررسی و حداکثر در خــلال (۲۸) روز کاری از تــاریخ مواصــلت اسناد مکمل و تصحیح شده، تصــمیم مبنی بر رد، اعاده یا منظوری آن اتخاذ نماید، در غیر آن، قرارداد، منظورشده محسوب می گردد.

(۴) کمیسیون تدارکات ملی می تواند عندالضرورت بــر حــدود وظــایف و صلاحیت های اداره، به پیشــنهاد اداره تدارکات ملی تجدید نظر نماید.

(۵) کمیسیون تدارکات ملی، در موارد خاص، با توجه به چگونگی حــالات و منافع علیای کشور، تصــامیم مناســب اتخاذ می‌نماید.

(۶) اداره تدارکات ملی، به منظور تنظیم و انسجام امــور قراردادهــای شــامل صلاحیت کمیسیون تــدارکات ملــی، دارالانشای کمیسیون تدارکات ملی را ایجاد می نماید.

(۷) طرز فعالیت کمیسیون تــدارکات

هغهٔ د دارالانشاء د فعالیت ډول، په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

## د عامې استفادې په هکله، د تدارکاتو د ادارې او یا خاص میکانیزم جوړول

**پنځه پنځوسمه ماده:**

حکومت کولای شي، عندالضرورت د ادارو د عامې استفادې وړ تدارکاتو د برابرولو له پاره اداره یا خاص میکانیزم، جوړ کړي.

## د ملي تدارکاتو اداره

**شپږ پنځوسمه ماده:**

(۱) د ملي تدارکاتو اداره، د تدارکاتو د سیستم د ښه والي، د پالیسی د ترتیب، مسلکي پرمختیا، د تدارکاتو د پلانونو د سمون، د تدارکاتو له پړاوونو څخه د څارنې، د تدارکاتو د چارو د اسانولو اود قراردادونو د پرمختګ له څرنګوالي څخه د څارنې په منظور، فعالیت کوي.

(۲) د ملي تدارکاتو اداره له خپلو اجراآتو څخه، د ملي تدارکاتو کمېسیون ته رپوټ وړاندې کوي.

ملی و دارالانشای آن، در طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

## ایجاد اداره و یا مکانیزم خاص تدارکات مورد استفادهٔ عام

**مادهٔ پنجاه وپنجم:**

حکومت می تواند، عندالضرورت اداره ویا مکانیزم خاص راجهت تهیه تدارکات مورد استفادهٔ عام ادارات، ایجاد نماید.

## اداره تدارکات ملی

**مادهٔ پنجاه وششم:**

(۱) اداره تدارکات ملی، به منظور بهبود سیستم تدارکات، ترتیب پالیسی، انکشاف مسلکی، انسجام پلان های تدارکات، نظارت از مراحل تدارکات، تسهیل امور تدارکات و نظارت از چگونگی پیشرفت قراردادها فعالیت می نماید.

(۲) اداره تدارکات ملی از اجراآت خود به کمیسیون تدارکات ملی گزارش ارائه می نماید.

(۳) د ملي تدارکاتو د ادارې د فعالیت ډول، په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

**د ملي تدارکاتو د ادارې دندې او واکونه**

**اووه پنځوسمه ماده:**

(۱) د ملي تدارکاتو اداره د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- ددې قانون د حکمونو او د تدارکاتو د کړنلارې له رعایت او په دې برخه کې له شفافیت او اغېزمنتوب څخه د ډاډ ترلاسه کولو له پاره، د ادارو د تدارکاتو له پړاوونو څخه مراقبت او څارنه.

۲- د تدارکاتو د کړنلارې مطابق، د قراردادونو د پرمختګ له څرنګوالي څخه څارنه.

۳- د تدارکاتو د اجراآتو د ښه والي او توحید له پاره، د تدارکاتو د پالیسیو، کړنلارو، لارښودونو، لایحو، متحدالمالونو، شرطپاڼو او نورو معیاري(نمونوي) سندونو برابرول، ترتیب او تصویب او ټولو ادارو ته د هغو صادرول.

(۳) نحوه فعالیت اداره تدارکات ملی در طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

**وظایف و صلاحیت های اداره تدارکات ملی**

**مادۀ پنجاه وهفتم:**

(۱) اداره تدارکات ملی دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱- مراقبت و نظارت از مراحل تدارکات ادارات، جهت حصول اطمینان از رعایت احکام این قانون و طرزالعمل تدارکات، شفافیت و مؤثریت آن در زمینه.

۲- نظارت از چگونگی پیشرفت قراردادها طبق طرزالعمل تدارکات.

۳- تهیه، ترتیب و تصویب پالیسی های تدارکات، طرزالعمل ها، رهنمودها، لوایح، متحدالمال ها، شرطنامه ها و سایر اسناد معیاری (نمونوی) جهت بهبود و توحید اجراآت تدارکات و صدور آنها به ادارات.

۴- د ادارو د تدارکاتو د ظرفیت بررسي او د تدارکاتو د ظرفیت د تصدیق لیک ورکول.

۵- د داوطلب او قراردادي محرومول.

٦- اړوندو مراجعو ته د عدلي تعقیب په غرض، ددې قانون له حکمونو څخه د سرغړونو د مواردو محولول.

۷- د معلوماتو د راټولولو په منظور، د تدارکاتو اقتصادي مطالعه او پېشبیني او په هکله یې د لازم تصمیم نیول.

۸- په تدارکاتوکې له معلوماتي تکنالوژۍ څخه د استفادې د پالیسۍ وضع کول.

۹- د بشري سرچینو پرمختیا، مسلکي وده، د زده کړه ییزو برنامو جوړول او د تدارکاتو د کړنلارې مطابق، د تدارکاتو په چارو کې د کارکوونکو او مؤظفینو د کدري او مسلکي چارو مدیریت.

۱۰- عندالضرورت د اعطاء آمر د پولي واک د حدودو بررسي او نوې کتنه او د ملي تدارکاتو کمېسیون ته د هغو وړاندیز.

۱۱- ددې قانون د حکمونو او د تدارکاتو د کړنلارې مطابق، نورې سپارل

۴- بررسی ظرفیت تدارکات ادارات و اعطای تصدیقنامه ظرفیت تدارکات.

۵- محروم نمودن داوطلب وقراردادی.

٦- محول نمودن موارد تخلف از احکام این قانون غرض تعقیب عدلی به مراجع مربوط.

۷- مطالعه اقتصادی تدارکات و پیشبینی ها به منظور جمع آوری معلومات و اتخاذ تصمیم لازم در زمینه.

۸- وضع پالیسی استفاده از تکنالوژی معلوماتی در تدارکات.

۹- انکشاف منابع بشری، رشد مسلکی، تدویر برنامه های آموزشی و اعطای تصدیق نامه و مدیریت امور کدری و مسلکی کارکنان و مؤظفین در امور تدارکات طبق طرزالعمل تدارکات.

۱۰- بررسی و تجدید نظر بر حدود صلاحیت پولی آمر اعطاء عندالضرورت و پیشنهاد آن به کمیسیون تدارکات ملی.

۱۱- سایر وظایف محوله طبق احکام این قانون و طرزالعمل

شوې دندې.

(۲) د ملي تدارکاتو اداره، نه شي کولای، په ادارو کې د اعطاء آمر په توګه، اجراآت وکړي.

(۳) د ملي تدارکاتو د ادارې د څارنيزو چارو اجراء، ددې قانون د حکمونو مطابق، د نورو واکمنو ادارو د څارنيزو او مراقبتي فعاليتونو د سرته رسولو خنډ(مانع) نه کېږي.

## د اجناسو د تدارکاتو د پلان تنظيم

اته پنځوسمه ماده:

اداره مکلفه ده، د ا جناسو د تدارکاتو پلان، ددې قانون د حکمونو مطابق، داسې تنظيم کړي چې د هغو له ضايعاتو او احتمالي زيانونو څخه مخنيوی، د هغو له مداوم موجوديت څخه ډاډ ترلاسه او د مازادو مالونو د پرېښودو په صورت کې، د هغو منصفانه ارزښت وساتلی شي.

## د اجناسو د منلو يا رد د سندونو ترتيب

نهه پنځوسمه ماده:

د کتنې هيئت مکلف دی، دمنلو او

تدارکات.

(۲) اداره تدارکات ملی، نمی تواند، بحيث آمر اعطاء در ادارات اجراآت نمايد.

(۳) اجرای امور نظارتی اداره تدارکات ملی مانع انجام فعاليت های نظارتی و مراقبتی ساير ادارات ذيصلاح طبق احکام اين قانون نمی گردد.

## تنظيم پلان تدارکات اجناس

مادهٔ پنجاه وهشتم:

اداره مکلف است، پلان تدارکات اجناس را، طبق احکام اين قانون، طوری تنظيم نمايد که از ضايعات و خسارات احتمالی آن جلوگيری، از موجوديت مداوم آن اطمينان حاصل و در صورت واگذاری اموال مازاد، ارزش منصفانه آن حفظ شده بتواند.

## ترتيب اسناد پذيرش يا رد اجناس

مادهٔ پنجاه ونهم:

هيئت معاينه مکلف است، اسناد پذيرش

تسليمي يا رد سندونه ترتيب، يو نقل يې قراردادي ته د اجناسو له منلو يا رد څخه د خبرتيا په توګه او بــل نقــل يــې د تحويلخانې مسئول ته وړاندې کــړي. د اجناسو ساتنه او موجودي، د اړوند تقنيني سند مطابق، صورت مومي.

## د قرارداد له منــدرجاتو ســره د تدارکاتو له مطابقت څخه تصديق

شپېتمه ماده:

(۱) د کتنې هيئت او په قرارداد کې نور شامل کارکوونکي مکلف دي، په قرارداد کې له درج شوو شرايطو سره د تدارکاتو له مطابقت څخه، تصديق وکړي.

د نه مطابقت په صورت کــې، اداره يــا مسئول شخص، اعطاء آمر ته په لنډ وخت کې د مستند رپوټ په وړانــدې کولــو مکلف دی.

(۲) ادارې مکلفې دي، په جلا يا له نورو اړوندو ادارو سره په ګډه توګه، له احوالو سره سم، د کتنې اســانتياوې برابــرې کړي.

(۳) اداره کولای شي، د لزوم په صورت کې، د بيا کتنې د اجراء او په مشخصو

و تسليمی يا رد اجناس را ترتيب، يــک نقل آن را به قراردادی بحيث اطلاعيه از پذيرش يا رد اجناس و نقل ديگر آنرا به مسئول تحويلخانه ارائه نمايد. محافظت و موجودی اجناس طبق ســند تقنينــی مربوط صورت می گيرد.

## تصديق از مطابقت تــدارکات بــا مندرجات قرارداد

مادهٔ شصتم:

(۱) هيئت معاينه و ساير کارکنان شامل قرارداد مکلف اند، از مطابقت تدارکات با شرايط منــدرج قــرارداد تصــديق نمايند.

در صورت عــدم مطابقــت، اداره يــا شخص مسئول، مکلف به ارائه گزارش مستند در اسرع وقت به آمــر اعطــاء می باشد.

(۲) ادارات مکلف اند، بــه صــورت جداگانه يا مشترک بــا ســاير ادارات ذيربط حسب احوال، تسهيلات معاينه را فراهم نمايند.

(۳) اداره می تواند، در صورت لــزوم، هيئت تخنيکی خاص را به منظور اجرای

مواردو کې د اجراآتو د منلو په منظور، د تدارکاتو د کړنلارې مطابق، خاص تخنيکي هيئت توظيف کړي.

(۴) کورنۍ (داخلي) پلټنه، څارونکی انجنير يا د کتنې او تسليمۍ هيئت، مکلف دي، د اړوندو تدارکاتو د فعاليتونو په هکله تدارکاتو د واکمنو مراجعو ته د کړنلارې مطابق، په منظمه توګه رپوټ وړاندې کړي.

## ګدامونه او زېرمې

### يو شپېتمه ماده:

(۱) حکومت کولای شي، د لاندې موخو د تأمين په منظور، ګدامونه او زېرمې رامنځته کړي:

۱- د ادارو د اړتيا وړ اجناسو ګدام.

۲- د ساتنې وړ برابرو شوو، د ادارو د موجودو اړتياوو مازاد اجناسو ګدام.

۳- د اضطراري او بيړنيو حالاتو له پاره د لازمو موادو ګدام.

۴- د ګدامونو او زېرمو د اندازې تنظيم، ددمخه اړتيا او په راتلونکې کې د هغو د اړتيا پيشبيني ته په پام سره.

۵- د تدارکاتو په کړنلاره کې درج شوي

معاينه مجدد و قبولی اجرآت در موارد مشخص، طبق طرزالعمل تدارکات توظيف نمايد.

(۴) تفتيش داخلی، انجنير نظارت کننده يا هيئت معاينه و تسليمی، مکلف اند، در مورد فعاليت های تدارکات مربوط، طور منظم به مراجع ذيصلاح، طبق طرزالعمل تدارکات گزارش ارائه نمايند.

## گدام ها و ذخاير

### مادۀ شصت ويکم:

(۱) حکومت می تواند، گدام ها و ذخاير را به منظور تأمين اهداف ذيل ايجاد نمايد:

۱- گدام اجناس مورد نياز ادارات.

۲- گدام اجناس تهيه شده قابل حفظ، مازاد نيازمندی موجود ادارات.

۳- گدام مواد لازم برای حالات اضطراری و عاجل.

۴- تنظيم اندازۀ گدام ها و ذخاير با نظرداشت ضرورت قبلی و پيشبينی ضرورت آن در آينده.

۵- ساير موارد مندرج طرزالعمل

نور موارد.

(۲) د ګدامونو او زېرمو مسئولین مکلف دي، د تدارکاتو د کړنلارې مطابق، د اجناسو د ثبت، موجودۍ او لېږد په هکله رپوټ برابر او واکمنو مراجعو ته وړاندې کړي.

(۳) د ګدامونو او زېرمو مسئولین مکلف دي، اجناس د هغو ډول (نوعیت) ته په پام سره، په خوندي توګه زېرمه او هغه د لېږد له پاره(دغوښتنې په صورت کې)، چمتو وساتي.

(۴) په ګدامونو او زېرمو پورې اړوندې چارې، په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

## مازاد مالونه

### دوه شپېتمه ماده:

(۱) اداره کولای شي، د خپلو اړتیاوو مازاد منقول او نا منقول مالونه، په نورو ادارو کې له نه اړتیا او استفادې څخه د ډاډ له ترلاسه کولو وروسته، د اړوندو قوانینو مطابق، د مالیې وزارت په موافقه، د مزایدې، لیلام یا نورو هغو تګلارو له لارې چې دولت ته د زیاتې ګټې متضمنې وي، وپلوري، په اجاره یا په کرایه

تدارکات.

(۲) مسئولین گدام ها و ذخایر مکلف اند، طبق طرزالعمل تدارکات، گزارشی را در مورد ثبت، موجودی و انتقال اجناس تهیه و به مراجع ذیصلاح ارائه نمایند.

(۳) مسئولین گدام ها و ذخایر مکلف اند، اجناس را با نظر داشت نوعیت آن، طور مصئون ذخیره و آن را برای انتقال (در صورت درخواست)، آماده نگهدارند.

(۴) امور مربوط به گدام ها و ذخایر در طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

## اموال مازاد

### مادۀ شصت ودوم:

(۱) اداره می تواند، اموال منقول و غیرمنقول مازاد از نیازمندی های خویش را بعد از حصول اطمینان از عدم ضرورت و استفاده آن در سایر ادارات، طبق احکام قوانین مربوط به موافقۀ وزارت مالیه از طریق مزایده، لیلام یا سایر شیوه های که متضمن بیشترین نفع برای دولت باشد، به فروش رسانیده، به

ورکړي.

(۲) اداره مکلفه ده، د اړوندو مـــازاد اجناسو د کميت او شرح په هکلـــه، د ماليې وزارت ته رپوټ وړانـــدې او پـــه محرمانه توګه د هغې بيې په هکله چـــې اداره دهغې د ترلاسه کولو غوښـــتونکې ده، نظر ورکړي.

(۳) د ماليې وزارت مکلـــف دی، ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی رپوټ، د نوموړو اجناسو د اړتيا يا نه اړتيـــا پـــه هکله د تصميم نيولو له پاره، نورو ادارو ته ابلاغ کړي.

(۴) د ماليې وزارت مکلف دی، په خاصه توګه د مـــازاد کمپيـــوټري وســـايلو او ترانسپورټي وسايطو په هکله، ښـــوونيزې ادارې، خبرې کړي.

(۵) په هغهٔ صورت کې چې په دې ماده کې درج شوي مالونه ادارو ته ولېږدول شي، نوموړي مالونه د اړونـــد قـــانون د حکمونو مطابق، د ترلاسه کوونکې ادارې په دفترونو کې بودجوي ثبتېږي.

(٦) د ماليې وزارت، د دولتي مالونو له اجارې څخه ترلاسه شوي وجوه، هر کال

اجاره يا به کرايه دهد.

(۲) اداره مکلـــف اســـت، در مـــورد کميت و شرح اجناس مازاد مربوط بـــه وزارت ماليه گزارش ارائه و به صورت محرمانه در مـــورد قيمتـــی کـــه اداره خواهان دريافت آن می باشد، ابراز نظر نمايد.

(۳) وزارت ماليه مکلف است، گزارش مندرج فقرهٔ (۲) اين ماده را جهت اتخاذ تصميم در مورد ضـــرورت يـــا عـــدم ضرورت اجناس متذکره به ساير ادارات ابلاغ نمايد.

(۴) وزارت ماليه مکلف است، بطـــور اخص در مورد وســـايل کمپيـــوتری و وسايط ترانسپورتی مازاد، ادارات تعليمی را مطلع گرداند.

(۵) در صورتی که اموال مندرج ايـــن ماده به ادارات انتقال گردد، امـــــوال مذکور طبق احکام قـــانون مربـــوط در دفاتر اداره دريافت کننده، ثبت بودجوی می گردد.

(٦) وزارت ماليه وجوه حاصله از اجاره اموال دولتی را سالانه بررســـی و بـــه

بررسي او د دولت د وارداتو په حساب، بانک ته تحويلوي.

## د قراردادونو منظوري

**دري شپېتمه ماده:**

(۱) په تدارکاتو کې د اعطاء آمر د پولي واک حدود، د ملي تدارکاتو د ادارې په وړانديز او د ملي تدارکاتو د کمېسيون په منظورۍ ټاکل کېږي.

(۲) قراردادونه، پولي واک ته په پام سره، د اعطاء آمر په واسطه منظورېږي.

(۳) که چېرې د قرارداد د ورکړې منظوري، د اعطاء آمر له واک څخه بهر وي، د قرارداد د ورکړې وړانديز د اعطاء آمر له تأييد وروسته د منظورۍ له پاره د ملي تدارکاتو کمېسيون ته راجع کېږي.

(۴) اعطاء آمر کولای شي، خپل پولي واکونه په کُلي يا قسمي توګه دوه يمو واحدونو، معينانو او د اړوندو ادارو د برخو رئيسانو ته وسپاري.

حساب واردات دولت تحويل بانک می نماید.

## منظوری قراردادها

**مادۀ شصت وسوم:**

(۱) حدود صلاحیت پولی آمر اعطاء در تدارکات، به اساس پیشنهاد اداره تدارکات ملی و منظوری کمیسیون تدارکات ملی، تعیین می گردد.

(۲) قراردادها، با نظرداشت صلاحیت پولی، توسط آمر اعطاء منظور می گردد.

(۳) هرگاه منظوری اعطای قرارداد خارج از صلاحیت آمر اعطاء باشد، پیشنهاد اعطای قرارداد بعد از تایید آمر اعطاء جهت منظوری به کمیسیون تدارکات ملی ارجاع می-گردد.

(۴) آمر اعطاء می تواند صلاحیت های پولی خویش را طور کلی یا قسمی به واحد های دومی، معینان و رؤسای بخش های ادارات مربوط تفویض نماید.

## اتم فصل

## وروستني حکمونه

**د خاصو ترتيباتو برابرول**

**څلور شپېتمه ماده:**

(۱) د ملي تداركاتو كمېسيون كولاى شي، ددې قانون د حکمونو د ښه تطبيق په منظور، د لګښتونو د اغېزمن مديريت د منځته راتلو او په مرکز او ولايتونو کې د تداركاتي ادارو د ظرفيت د لوړېدو تر وخته، خاص ترتيبات منظور کړي.

(۲) د ملي تداركاتو د ادارې په واسطه ددې قانون د څلورپنځوسمې مادې د حکمونو په رعايتولو سره، د تداركاتي اسانتياوو برابرول، په خاصو ترتيباتو کې شامل دي.

(۳) د ملي تداركاتو كمېسيون كولاى شي، د خاصو ترتيباتو د تداوم يا لغو په هکله، له احوالو سره سم، تصميم ونيسي.

**مؤيدات**

**پنځه شپېتمه ماده:**

(۱) هغه شخص چې ددې قانون له حکمونو څخه د سرغړونې له امله، ځان

## فصل هشتم

## احکام نهائی

**فراهم سازی ترتيبات خاص**

**مادۀ شصت وچهارم:**

(۱) کميسيون تداركات ملی می تواند، به منظور تطبيق بهتر احکام اين قانون الی زمان به ميان آمدن مديريت مؤثر مصارف و ارتقای ظرفيت کامل ادارات تداركاتی در مرکز و ولايات، ترتيبات خاص را منظور نمايد.

(۲) ترتيبات خاص شامل فراهم سازی تسهيلات تداركاتی با رعايت احکام مادۀ پنجاه و چهارم اين قانون، توسط اداره تداركات ملی می باشد.

(۳) کميسيون تداركات ملی می تواند، در مورد تداوم يا لغو ترتيبات خاص حسب احوال، تصميم اتخاذ نمايد.

**مؤيدات**

**مادۀ شصت وپنجم:**

(۱) شخصی که بالاثر تخلف از احکام اين قانون، موجب دريافت منفعت برای

يا بل شخص ته د ګټې(منفعت) د ترلاسه كولو او يا ادارې ته د زيان موجب شي، د قانون د حكمونو مطابق مجــازات او د زيان د جبران په وركولو هم مكلف دی.

(۲) د زيان د جبران مقدار، د ترلاســه شوې ګټې او وارد شوي زيان اندازې ته په پام سره، د واكمنې محكمې له خــوا، ټاكل كېږي.

(۳) كه چېــرې اداره، ددې قــانون د حكمونو له رعايت پرته، يا له خپل قانوني واک څخه بهر، تدارکات ترلاسه او يــا قرارداد عقد كړي، د زيان پــر جبــران سربېره، تر عدلي تعقيب لاندې هم نيول كېږي.

## د مقررو او كړنلارو وضع كول

### شپږ شپېتمه ماده:

د ملي تداركاتو اداره كولای شي، ددې قانون د حكمونو د ښه تطبيق په منظــور مقررې وړانديز، كــړنلارې، لايحــې او لارښودونه چې ددې قانون د حكمونــو مغاير نه وي، وضع كړي.

خود يا شخص ديگر و يا خساره به اداره گردد، مطابق احكام قانون مجــازات و مكلف به پرداخت جبران خساره نيــز می باشد.

(۲) مقدار جبران خساره با نظرداشــت اندازه منفعت حاصله و خسارهٔ وارده، از طــرف محكمــهٔ ذيصــلاح تعيــين می گردد.

(۳) هرگاه اداره، بدون رعايت احكام اين قانون يا خارج از صلاحيت قــانونی خويش، تــداركات را دريافــت و يــا قرارداد را عقد نمايد، علاوه بر جبران خساره، مورد تعقيب عدلی نيــز قــرار می گيرد.

## وضع مقرره ها و طرزالعمل ها

### مادهٔ شصت وششم:

اداره تداركات ملی می تواند به منظور تطبيق بهتر احكام اين قانون مقرره ها را پيشنهاد، طرزالعمــل هــا، لــوايح و رهنمودها را كه مغاير احكام اين قانون نباشند، وضع نمايد.

**د انفاذ نېټه**

**اووه شپېتمه ماده:**

دغه قانون د توشېح له نېټي څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي او په نافذېدو سره يې د ۱۳۸۷ کال په (۹۵۷) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د تدارکاتو قانون او د ۱۳۸۷ کال په (۹۷۱) ګڼه او د ۱۳۹۳ کال په (۱۱٦۸) ګڼه رسمي جريدو کې د هغهٔ خپاره شوي تعديلونه او د هغهٔ نور مغاير حکمونه ملغي ګڼل کېږي.

**تاريخ انفاذ**

**مادهٔ شصت وهفتم:**

اين قانون از تاريخ توشيح نافذ و در جريدهٔ رسمى نشر گردد و با انفاذ آن، قانون تداركات منتشرهٔ جريدهٔ رسمى شماره (۹۵۷) سال۱۳۸۷ و تعديلات آن منتشرهٔ جرايد رسمى شماره (۹۷۱) سال۱۳۸۷ و شماره (۱۱٦۸) سال۱۳۹۳ و ساير احكام مغاير آن ملغى شمرده مى شود.

# اشتراک سالانه:

در مرکز و ولایات : (۹۰۰) افغانی

برای مامورین دولت: با ۲۵ فیصد تخفیف

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصدیق، نصف قیمت

برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد

خارج از کشور: (۲۰۰) دالر امریکائی

**ISLAMIC REPUBLIC**
**OF**
**AFGHANISTAN**
**MINISTRY OF JUSTICE**

# OFFICIAL GAZETTE

## Extraordinary Issue

# Law on Procurement

**Date:7 th October .2015**
**ISSUE NO :(1186)**